شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۸) صفحه

شمارهٔ مسلسل (۵۵۳) سال پانزدهم ،شمارهٔ (۹۹) پنجشنبه (۷)عقرب ۱۳۷۱ هـ.ش- (۲)جمادی الاول ۱٤۱۳ هـ.ق- (۲۹)اکتوبر ۱۹۹۲م

بیه:یوه روپي یا (۳۰) افغانی

مجاهدین حزب اسلامي هشت پوستهٔ نیروهاي ائتلافي درکاپیساوبگرام را تصرف نمودند

کاپیسا - ٥ عقرب :

قواي متجاوزائتلافي دربگرام وکاپیسا هشت پوستهٔ خودراازدست دادند .

رادیوپیام آزادي به نقل ازخبرهاي رسیده ازولایات پروان وکاپیسا گزارش دادندکه قطعات ملیشیاهاي بدنام به رهنمایي وهمکاري شوراي نظارروزدوشنبه گذشته یك عملیات وسیعي رابرمراکز حزب اسلامي درین مناطق براه انداخته مي خواستند این مناطق راتحت تصرف خوددرآورندولي مجاهدین همیشه درسنگرحزب اسلامي این عملیات ملیشیاهاوشوراي نظار رابه عقب زده وباشهامت ومردانگي کامل ازسنگرهاي خوددفاع نمودند .

درخبرآمده است که دیروز نیزجنگ شدیدي درین مناطق جریان داشت ونیروهاي ائتلافي دربگرام بعدازتحمل تلفات سنگین هشت پوسته وبعضي نقاط حساس شان را ازدست داده وپابه فرارنهادند، گفته مي شودکه جنگ هنوزادامه دارد .

دالجزایر دپوځي حکومت له خواپراخه پیمانه‌دمسلمانانو دنیولو لړي روانه ده

جنگ راولپنډي :

دالجزایر پوځي حکومت دهغه هیواد داسلامي نجات دجبهي دارکانو په دفترونواوکورونوباندي ناڅاپي حملي پیل کړي . ددغو حملو په نتیجه کي داسلامي جبهي زیات کارکونکي ونیول شول اوزیات شمیربي په شهادت رسول شویدي خو دقیق شمیربي تراوسه معلوم شوي نه دي.
په خبرونوکي ویل کیږي چي پوځي حکومت داسلامي جبهي په کارکوونکو تور لګولي چي ګواکي دوي د فبروري دمیاشتي د (۹) تاریخ یعني له هغه وخت نه چي په الجزایر کي دپوځي واکمنو لخوا اضطراري حالت اعلان شو تراوسه دوه سوه تنه پولیس اوپوځیان وژلي دي.
په خبرکي زیاته شوي چي تر اوسه دپوځي واکمنو لخوا داسلامي جبهي تقریباً ۹۰۰ کارکوونکي نیول شوي دي.

ورورحکمتیاردننګرهار،لغمان اوکونړولایتونوجهادي قوماندانانو ته دوینا په ترڅ کي :

دائتلاف له آخرني ماتي وروسته په هغه کي سخت اختلافات راپیدا شوي دي

۲مخ

● ببرك کارمل دکا ،جی ،بی اوسی ،ای ،ای دتوافق په نتیجه کی له مسکونه کابل ته راوستل شو

اوس ټولوته څرګنده ده چي دکابل دائتلافی حکومت اصلی جمهوررئیس په مزارشریف کی دی

● موږ پرکابل باندي په زوردحکومت کولو اراده اوفکرنه لرو

ملیشیاهابارديگربه غارتگري وچپاول گري آغازکردند

کابل - ۳ عقرب :

ملیشیاهاي وحشي باردیگر شروع به چپاولگري وغارتگري درشهرکابل نموده وبه آزار واذیت شهریان کابل پرداخته اند .

شاهدان عیني ازکابل گزارش میدهند، ملیشیاهاي وحشي درچندروز قبل درقرارگاه هاي شان مخفي بوده وبه ندرت دربازارهاي شهردیده مي شدنداماا‌خیراً باردیگر به بازارهاي شهرهجوم آورده به چپاولگري وغارتگري مجدد اقدام نموده اند .

شخصي که ناظرصحنه بوده وازافشاي نامش خودداري کرده میگوید خودم شاهد صحنه بودم که ملیشیاهادرجاده نادرپشتون یك مغازه بزرگ را تاراج نمودند. همچنان این تفنگداران وحشي بااستفاده ازکلاشینکوف درجاده نزدیك بالاحصارسرویس هارا متوقف نموده به تلاشي وبازرسي مسافران پرداخته ، پول، ساعت واموال قیمتي مسافران راغارت کردند .

سفیرعربستان سعودی بابرادرحکمتیارامیرحزب اسلامی افغانستان ملاقات وگفتگونمود

رادیوپیام آزادي به نقل ازمسئول دفترخاص امارت حزب اسلامي گزارش دادکه سفیرعربستان سعودي روزسه شنبه درجنوب کابل دریکي ازمراکزجهادي بابرادرحکمتیار ملاقات نمود. درگزارش آمده است صبح همان روزسفیرعربستان ازجلال آبادبه صوب کابل به قصدملاقات بابرادرحکمتیارحرکت نمود .وي را سي وشش نفرازاعضاي هیئت معیتي شان وحاجي منگل نمایندهٔ حزب اسلامي افغانستان مقیم اسلام آباد همراهي مي کردند نامبرده ساعت ۱۱ قبل ازظهرروزسه شنبه درجنوب کابل دریکي ازمراکز جهادي حزب اسلامي بابرادرحکمتیارملاقات نمود.

گزارش علاوه مي کند، هیئت عربستان سعودي نان چاشت را باامیرحزب اسلامي صرف نمود. این ملاقات که درفضاي برادرانه ودوستانه صورت گرفت ساعت ۲ بعدازظهرپایان یافت . برادرحکمتیار دررابطه باجریانات اخیرکشورودرارتباط باموضع شرعي واصولي حزب اسلامي بادلایل قانع کننده ومنطقي به سفیرعربستان سعودي معلومات داد. که جانب مقابل بعدازدرك واقعیت هامتاثرشد. امیرمجاهدحکمتیار درلابلاي صحبت هاي خود باسفیرعربستان سعودي چنین گفتند : ماهمیشه خواسته ایم که درافغانستان درفضاي صلح

ص(۷)

حملات ملیشه هاي وحشي درولایت کندزبه عقب زده شد

کندز- ٦ عقرب :

گزارشهاي رسیده ازولایت کندزحاکیست که به تاریخ ۳ عقرب نیروهاي ملیشه تحت فرماندهي عبدالرشیددوستم درچندنقطه مهم واستراتیژیك ولایت باستاني کندزبرمراکزمجاهدین حملات وحشیانه نمودندکه لله الحمد به مقاومت شدیدي نیروهاي اصیل جهادي مواجه وعقب زده شدند به گزارش همین منبع درولسوالي امام صاحب، قسمت هاي شیرخان بندر ، آلچین ، قلعه ذال وولسوالي چاردره ملیشه ها تلفات زیادي دیده اند، درخبرگفته شده که بعدازشکست ملیشه ها، طیارات جت ازمزارشریف به پرواز درآمده واکثرمناطق ولایت رابمباردمان نموده است که به تعداد ۱۰ نفرشهیدویکتعداد مواشي ازبین رفته است .

صبغت الله مجددی کابل ته روان شو

پیښور : دلړم ٥ نیټه :

دافغانستان دجبهه نجات ملي دګوندمشر اودجهادي شوراي رئیس صبغت الله مجددي دراتلونکي مؤقتي مشر دټاکلو په غونډه کي دګډون له پاره له پیښور څخه کابل ته روان شو خبرزیاتوي چي دکابل رادیو رپوټ ورکړي چي ددوشنبي په ورځ دافغانستان دقیادي شوري مشرانو غونډه وکړه او دراتلونکي مشرتابه دټاکلو له پاره بي داهل حل اوعقد دشورا دجوړولو په هکله خبري کړي.
خوبه دي غونډه کي د(۹) مشرانو نه بوازي ۳ مشرانو ګډون درلود اورباني به قدرت دغي شورا ته وسپاري بیا به قیادي شور داهل حل اوعقد دشوراترجوړیدوپوري دخپلوغړونه یوتن مؤقتي مشروټاکي.

جماعت اسلامی پاکستان مظالم هندوهارادرکشمیر طی تظاهرات محکوم نمود

اسلام آباد - نواي وقت :

به اساس درخواست قیادت تحریك آزادي کشمیرسیدعلي گیلاني برخلاف تاراج ومظالم ناروا وناجائز هندوهادرسرینگرتمام تحریك هاي اسلامي جهان به شمول آزاد کشمیروکشمیراشغالي وپاکستان تاریخ ۲۷ اکتوبررا روزسیاه اعلان نمودند .

طبق گزارش به همین خاطردرشهر هاي پاکستان وکشمیر مجالس ورهپیمایي هاي درین مورد ترتیب وتنظیم گردیده بود . درین رابطه تظاهرات شانداري تحت قیادت برادرقاضي حسین احمد صورت گرفت ویك نامه که درآن مظالم هندوهاعلیه کشمیري هاي بی دفاع به شدت مذمت ونکوهش گردیده بودبه سفارت هندوستان تحویل داده شد. درین نامه مطالبه گردیده بودکه به اساس قراردادهاي موسسه سازمان ملل متحدبه کشمیري هاحق خودارادیت داده شود .

ص(۸)

دنبي اوف کمونست پلویان په ماتي له دوشنبي نه ووتل

مسکو - دلړم ٥ نیټه :

دتاجکستان په پایتخت دوشنبه کي حکومتي قواووپس له هغه ددولتي ودانیو په نیولو باندي پیل وکړچي دکمونست پلوویاغیانو له پایتخت نه په وتلولاس پوري کړدشړل شوي جمهوررئیس رحمان نبي اوف پلویانو تیره ورځ دروسي عسکروترحمایي لاندي ددوشنبي نه وتل پیل کړل .
دغویرغلګرودشنبي په ورځ په پایتخت باندي یرغل وکړ اودحکومت مهمي اواساسي وداني بي ونیولي خودوي ورځي وروسته دنبي اوف پلویانو پس له هغي نه ماتي وخوړه چي مهمات ئي خلاص شول اومرسته ورته ونه رسیده .

دیمیرل وارد تهران شد

تهران - ٥ عقرب :

براي نخستین باربعدازانقلاب اسلامي سال ۱۹۷۹ سلیمان دیمیرل صدراعظم ترکیه وارد ایران شد .

وي بمجرد مواصلت به میدان هوایي تهران اظهار داشت که هدف بازدیدکنوني وي ازتعمیق مناسبات دوجانبه سیاسي واقتصادي وانکشاف همکاري درچهارچوب سازمان همکاري اقتصادي که درآن ترکیه پاکستان ایران؛پنج جمهوري شوروي سابق نیزشامل هستند عبارت مي باشد .

رئیس حکومت ترکیه خاطرنشان کرد چه انقره وچه تهران باید براي تحکیم مناسبات باجمهوري هاي شوروي سابق تلاش نمایند .

۲۰۰ ګرجستانی مسافران له ډوبیدو څخه وژغورل شول

مسکو : دلړم ٥ نیټه.

دروسي سمندري قوي دګرجستان دکب نیولو یوي وراني بېړي نه چي په توره بحیره کي طوفان خرابه کړي وه دوه سوه مسافران اوعمله وژغورل ،دایتارتاس آژانس وایي چي روسي هلیکوپترونو اوجنګي بېړیو پخواتردي چي ورانه شوي بېړي د روسي بندرته کش کړي ۳٦ کسان داوبو نه وایستل .ددغه ګرجستاني بېړي اکثر سورلي ښځي اوماشومان وو چي دګرجستان دبیلتون غوښتونکي سیمي افقازیاجنګونونه تښتیدلي وو.

ازدواج کنندگان بازنان خارجي نمي توانند درپوست هاي حساس کارکنند

تریپولي :

معمرالقذافي رهبرلیبیا روزگذشته طي سخنراني درکمیته نظام اشتراکي حکومت محلي درلیبیا گفته است که اگرتبعهٔ لیبیائي شراب بنوشدیاقماربازي نمایدویابازنان غیرلیبیایي ازدواج کند ، نه بحیث سفیرانتخاب مي شوندونه درمقامات دیگردولتي استخدام مي گردند. زیرا انسان شراب خواروقماربازنمیتواند درامورات مصدر خدمت گردد .

طبق خبرمعمرالقذافي زمانیکه درسال ۱۹٦۹ عیسوي زمام امورآن کشوررابدست گرفت به شراب نوشي قیودات راوضع نمود .

یلتسن حزب جدیدائتلافی کمونیستها وناسیونالیست ها راغیرقانونی اعلام میکند

مسکو - ٥ عقرب :

بوریس یلتسن تهدیدکرده است باصدور فرماني جبهه نجات ملي راکه درین هفته بمنظوربرکنارکردن اوتشکیل شده غیرقانوني اعلان خواهدکرد .

به گزارش آژانس خبري ایتارتاس وي به مقامات بلندپایه وزارت خارجه روسیه گفته است جبهه نجات ملي که ا زائتلاف کمونست هاي تندروسابق وناسیونالست هابه وجود آمده باتلاش براي براندازي دولت قانوني کشور؛ قانون اساسي را نقض کرده است . درهمین حال مخالفت یلتسن بامخالفان قدیمي اش تشدید شده ووي تصمیم به تشکیل اجلاس کنگره نمایندگان خلق رادرماه دسامبر محکوم کرده است . چندتن ازرهبران جبهه نجات ملي تاکیدکرده اند که میخواهند دولت یلتسن رابااستفاده ازراه هاي قانوني مجبوربه کناره گیري کنند .
رئیس جمهورروسیه گفت:به مبارزه قدرت براي دفع وطردحمله اپوزسیون آشتي ناپذیر ودفاع ازریفورم هاانجام میدهدوي پیشنهاد نمودتاجبهه نجات ملي که روزشنبه گذشته رویکارآمده ونمایندگان اپوزیسون راست وچپ رامتحدمي کندمتحل گردد . جبهه نجات ملي براي سرنگوني حکومت قانوني دعوت نموده ثبات جامعه رابرهم میزند. ### *

نمایندگان مخالف دولت عراق دربی تشکیل دولت مخالف صدام اند

بغداد - ٥ عقرب :

دوصدنفر ازنمایندگان گروهاي مخالف دولت عراق براي شرکت درکنفرانسي که هدف ازآن تشکیل یك دولت جدید است ، واردمنطقه تحت کنترول کردهادرشمال عراق شدند .

درین اجتماع که کنگره ملي عراق نامداده شده گروهاي مختلف سني ، شیعه ، لیبرال ، کمونست کردوترکمن شرکت میکنند ، دستوراصلي گفتگوهاي این کنفرانس احتمالاً همان ترکیب رهبري وساختارسیاسي آینده عراق خواهد بود. نیروهاي عراقي به علت وجود ممنوعیت پرواز هوایي درین منطقه قادربه ورود به محل این کنفرانس نیستند .

مقاله

بنام خدائیکه بی اندازه مهربان ونهایت بارحم است

درباني څلورمیاشتني واکمني دهیواد اوانقلاب لپاره تباه کوونکي چیلنج

دپېښورداضطراري اوعاجل تړون له مخي دادي دهیوادپه ویرجن اوغم لړلي تاریخ کي یوه بله پاڼه اوړي، اوهغه درباني له تخت نه دراکوزیدلو پیښه ده . ددي تړون دپریکړي له مخي داقتدارهغه پړاوسرته رسي، چي په هیڅ ډول به بي دافغانستان تاریخ هیرنه کړي . که شاه شجاع دانګریزي پوځونوپراوروسپوروپرکابل ورننوت ، خودهغه وخت مجاهدوځواکونوپرنګیانوته په ماتي ورکولو دتل لپاره له شا* شجاعانونه ځان اوهیوادخلاص کړ. مګر استاذرباني هغه شخصیت دي چي دروس دبشپړي ماتي وروسته ببرك کارمل اودوستم دغه دولس سترقاتلان یوځل بیا پرافغانانوورتیږي، اوکومي هلي ځلي بي چي ددغي شیطاني عمل دتحقق لپاره وکړي هیڅوك بي پټولي نشي . په اصل کي دانګریزانودشاه شجاع جنایات دروسانودببرك کارمل او وحشي دوستم نه ډیرکم دي ، تردي چي هیڅ ورسره مقایسه کیدي نشي . شاه شجاع نه ځوارلس کاله څېل هیواد په توپونو، ټانکونواوالوتکو بمباردکړي و، نه بي په شپو شپودهیواد پوهان ، عالمان ، محصلین اونوردکارخلك له کوره ایستلي اوپه ډله ایزډول بي پري کندي ډکي کړیدي، خوکارمل اودوستم دداسي جنایاتومرتکب دي، چي دقلم په ژبه نشي راتلي، اودلته بي لیکل هغه د"عیان ته څه بیان" کیسه کیږي . نو ددي تحلیل په رڼاکي رباني هغه څوك دي، چي عذربي زموږتاریخ ته له ګناه نه بترحیثیت لري . همداراز دشمال دنامقدس ایتلاف اودخاین مسعودله روس اودهغوي دغلامانو سره په اړیکوچي یوه تاریخي سابقه لري، دهیچاشك نشته ، اودلمرغوندي روښانه دي، نودرباني دشخصیت فطري کمزوري ددي لامل شوه ،چي هیواد دسري امپراتورۍ له ماتي وروسته په یوه بل ازمیښت کي واچوي، اویوه داسي مغشوشه فضارامنځته کړي، چي داسلامي انقلاب سالم ویستل تري یوځل بیادقربانۍ عظیمه نذرانه وغواړي .داچي پدي دورکي داسلامي انقلاب داهدافولپاره څومره کارشوي، بیخي هڅېرلوخبره نده ، اونه څوك دامنلي شي، چي دکمونستو جنرالانواودکمونیزم دپاتي شوني ګلم جمانوداکمنۍ پروخت دي حکومت اسلامي وي بلکي برعکس درباني داقتدارپدي څلور میاشتیني دورکي دعصبیتونوراپاریدل، دکمونستانودبیاواکمنۍ هیلي اودمرکزیت دختمیدوستونزي رامنځ ته شوي . رباني اودهغه

(۷)مخ

سخن روز

دورهٔ چهارماههٔ آقاي رباني به پايان رسيد ولي دورکمونيست ها وملیشه ها هنوز ادامه دارد!

بقلم: سرکاتب،

چندروزقبل گزارش دادند که احمدشاه مسعود وزیرنام نهاد ادارهٔ ائتلافي کابل بعدازیك هفته اقامت درمزارشریف دراسکورتي ازطیارات ملیشه ها که ازبلخ تامیدان هوایي کابل بدرقه میشد به زمین نشست . باریابي تقریباً همزمان جناب رباني ومسعود بادوستم درشرایطي پیش مي آمدکه هئیت صلح جلال آباد ازسران ائتلافي بي صبرانه طالب حرف آخربودند.

درآنروز هاهئیت صلح چه از راه ارتباط مستقیم وچه از راه تلیفون ومخابره دنبال رئیس دولت ووزیر دفاع ادارهٔ ائتلافي سرگرداني میکشیدند . ولي سران ائتلاف براي اینکه صلاحیت "جواب" رانداشتند امروز وفردا میکردند وازهیئت مهلت میخواستند ،واضح بود، این معطل کاریها بخاطر آن بودکه هنوز نتوانسته بودند باملیشیا بتفاهمه بي برسند . درهیمن حال واحوال سران عمدهٔ ائتلاف ازکابل خودشانرا دورکشیدند تا ازنزدیك باملیشه ها بنشینند وراجع به تهییریك فورمولیکه قسماً وظاهراً براي مردم قابل ارائه باشد،بموافقه برسند.

رشید دوستم ،ببرك ودیگر سران ائتلاف نامقدس ،چون بیشترین ثقل جریان رادردست دارند وابتکارعمل درداخل ائتلاف به آنها تعلق دارد ، با گردن کشي ونخوت تمام ،جناب رباني ومسعود را پذیرائي کردنداما فشار هاي خارجي ازیکطرف وعقب نشیني هاي پي در پي وخاضعانهٔ سران جهادي ائتلاف ازجانب دیگر ،بعدازیك هفته انتظار ، بالاخره دوستم را آماده این ساخت که به نحوي باقبول حرف "خروج ملیشیا " ازکابل موافقه کند.

بیانات واظهار نظرهاي که درارتباط به خروج نمایشي اولین دسته جات ملیشه درکابل عنوان شده ماراکمك میکند تاوضعیت رباني ومسعود را درمذاکرات بادوستم تصورنمائیم . یادمانرود ، درهمان اوایل ثورهنگامیکه جنرال دوستم اولین ضربات مجاهدین حزب اسلامي رامتحمل شد ، طي بیاني آمادگي نشان داد که اگرملیشه ها ازطرف حزب اسلامي بعنوان یك قوت جهادي برسمیت شناخته شوند آنها ازکابل بیرون خواهند رفت ،ولي حزب اسلامي معلوم است که ملیشیا را بااین حیثیت نپذیرفت وخواستار تسلیمي بلاقید وشرط ملیشه ها به حکومت مجاهدین شد.

وقتي سران ائتلافي درهنگام خروج نمایشي دوستمي ها ازکابل اکلیل ها ودسته هاي گل به گلم جم ها تقدیم داشتند وآنها رادرقتل وغارت و ... تقدیرنامه داده و به حیث سپاهیان باوفاي حکومت اسلامي ! موردتمجید قرار دادند . تصورکنید رباني ومسعود درپایگاه ومرکز اقتدار ملیشه ها بادوستم چگونه برخورد کرده باشند ؟!

تردیدي نیست که آنها بقدرکافي درحضور دوستم به مجاهدین وبه کساني که حکومت اسلامي را برحکومت مشترك باملیشه ها وکمونیست ها ترجیح میدهند بسیار بدوبیراه گفته اند. آنها دوستم را قناعت داده اندکه وقتي سران جهادي ائتلاف ملیشه ها رابه حیث قوت اسلامي وجهادي مي پذیرند وخوداین سران بعنوان جاده صاف کن ائتلاف خدمت میکنند چراباید لفظاً به قبول حرف " خروج ازکابل " موافقه نکند حرفیکه ادارهٔ ائتلاف میتواند با پیش کش ساختن آن خودش را ازمراجعه واصرار هیئت صلح نجات بدهدووسیله خوبي براي فریفتن مردم داشته باشد.

واقعیت این است که پروگرام نمایشي خروج ملیشا بجاي اینکه عقب نشیني وضعف ملیشیا درائتلاف پنداشته شود ، میتواند آغاز یك مرحلهٔ باز تر وموثرتري براي دوام اقتدار آنها درین حکومت باشد. اگر از حیث رابطه ملیشیا باحکومت قضیه رابررسي نمائیم ،ملیشه ها بیش اززمان حضرت مجددي درداخل رژیم رسوخ یافته اند. دروقت مجددي آنها طالب چند کرسي شوراي انتقال قدرت وهیئت کابینه بودند ولي حالا حرفهاي ملیشه ها راسخنگویان حکومت ائتلافي میزنند ! وقراریکه دیده میشود . مصمم شده اند که نه چند کرسي بلکه کرسي هاي زیادي را درشوراي حل وعقدازطریق فورمول پیشنهادي جناب رباني به ملیشیا بدهند وآنها را به حیث مسلمانان نخبه واهل رأي به شوراي مصلحین بفرستند.

حرف رفتن ویابودن رباني درمقام ریاست دولت ویاآمدن فرد دیگر درهمین شرایط وهمین صلاحیتها هیچ دردي رادوانمیکند چونکه اقتدار اصلي دردست کمونست هامي باشد وچیزي در اختیار رباني ومسعود نیست که آنها رابدیگران انتقال بدهند.

کسانیکه میخواهندراجع به آیندهٔ کشور قدم متعهدانه واسلامي بردارند.

باید قبل از اینکه درگیربحث هاي ضمني شوند ، سوال مقابله با سلطه و اعمال نفوذ کمونیست ها رادردولت جداً مورد توجه قرار داده وموقف روشن وشرافتمندانه يي درقبال این جریان ازخود نشان بدهند.

اگرکسانیکه میخواهند براي شوراي حل وعقد ویا تعین رئیس دولت حرف بزنندوکارنمایند، سوال خروج بلاقیدوشرط وطرد کمونیست ها مطرح نباشد بدانند که تب وتلاش شان همه بیهوده بوده وجزبي نظمي وضعیف شدن قوتهاي جهادي نتیجه دیگر از آن مرتب نخراهدشد.

لازم دارد که برخي دستگاه هاي نظاره گرجهادي ازاین مخمصه بیرون آیند وبایك تصمیم ویك اقدام بحال تشکیل یك دولت مستقل جهادي درکنار حزب اسلامي قراربگیرند.

دائتلاف له آخرنی ماتی‌نه وروسته...

درتواوقدرمنولوستونکو !

څوورځي مخکي په جلال آبادکي دحزب اسلامي افغانستان مجاهدامیردننګرهار، لغمان اودکنړونو دولایتونوقوماندانانواودولایتي شوراګانوغړوته په دې غونډه کي دروانوحالاتوپه باب توضیحات ورکړل دادي ددي وینا بشپړمتن نشرته سپارو . (اداره)

ورورحکمتیارله حمدوثناوروسته خپله ویناداسي پیل کړه :

زماورونو! ددي غونډي هدف دادي چي غواړودملك دروانوحالاتوپه هکله دختیځولایاتواهل رأي ورونو، قوماندانانو ، علماوو، مخورومشرانوسره تفصیلي خبري وکړو دحالاتوپه هکله هغوي ته معلومات ورکړو اودهغوي په نظریاتوځان پوه کړو .

حقیقت دادي چي دڅوارلس کلن جهادپه پاي کي چي کله داسلام دښمنانوداخبره احساس کړه چي اوس مجاهدین قدرت ته درسیدوپه حال کي دي، دنجیب حکومت دمجاهدینوپه وړاند ي نشي تم کیداي اونسکوریدل يي حتمي دي نوداسلام ټولو دښمنانو یوبل ته لاس ورکړ چي په افغانستان کي دمجاهدینواسلامي حکومت جوړنشي اودنجیب حکومت دمجاهدینوپه لاس دجهادپه نتیجه کي رانسکورنشي .

دجهادپه خلاف سازش داووچي بایدیومخلوط اوائتلافي حکومت جوړشي چي کمونستان پکي په زړه پوري ونډه ولري اومحوري حیثیت به هم دکمونستانووي . دکمونست رژیم ټول مسلح قطعات به په خپل حال پاتي وي په ائتلافي حکومت کي به په شکلي ډول مجاهدین هم برخه اخلي ولي اصلي قوت به دهغوزروکمونستانو په لاس کي وي، په اوضاع به هغوي مسلط وي، په دي ترتیب به جهادپاي ته ورسیږي اونوربه ولس اومجاهدین دړژیم په خلاف دوسلي اخیستل اودجهاد دادامي له پاره څه توجیه ونلري کله چي په دغسي بوائتلافي اداري څومیاشتي تیري شي په طبیعي ډول جهادي څواکونه په تدریج سره منحل کیږي هغوي به جنګي استعداد له لاسه ورکوي اوبالاخره به همغه زاړه کمونستان په اوضاع مسلط وي . پلان همداوو، ستاسوبه په یادوي چي مونږمسلسل ددي خبري پیشنهادکولوچي باید دنجیب دحکومت نه اقتدار یومؤقت حکومت ته انتقال شي، داسي مؤقت حکومت

بوځل چي څوک قرباني ته تیارشوبیادهغه خلع سلاح کول اوټکول ډیرګران دي

چي ټولوجهادي تنظیمونوته دمنلووړوي اوله متفق علیه شخصیتونونه جوړشوي وي بیادملیشي ځواکونه منحل شي اودهغوته ټول ثقیل وسائل پوځ ته انتقال شي، په شپږومیاشتوکي انتخابات ترسره شي او قدرت ددي مؤقت حکومت نه بیا دائمي منتخب اسلامي حکومت ته انتقال شي ، زمونږپلان داو چي که یومؤقت حکومت جوړشي قدرت هغه ته انتقال شي په انتخاباتوباندي توافق وشي ملیشي منحل شي کوم چي دتیررژیم اصلي قوت وو په دي ترتیب به په افغانستان کي دجنګ عوامل منتفي شي بیابه وینه نه توئیږي دجګړي ضرورت به ختم وي اوقدرت به دمجاهدینوحکومت ته انتقال شوي وي ، دمجاهدینوترمینځ به هم دمسلحانه برخوردونواودمسلحانه رقابتونوچانس ختم شوي وي . ټول به دي ته منتظروي چي افغان ولس څه فیصله کوي، همغه څوک به حکومت جوړوي چي ملت وریاندي اعتمادوکړي، ولي متاسفانه په مقابل طرف کي نورروداغوښتل چي دځوجنرالاتوپه مرسته قدرت ته ورسیږي دبهرنیوسازشونوله لاري قدرت ترلاسه کړي اودائتلاف په نتیجه کي دکمونستانو سره یوه ګډه اداره جوړه کړي اودکمونست رژیم دمسلحو قطعاتوجنرالاتوپه اوږوسپورارګ ته ورسیږي . هغوي دائتلاف اودسازش لاره غوره کړه . هغوي هڅه کوله ټول هغه قوتونه چي بهرني طاقتونوته دمنلووړوي داباید په یوه صف کي راغوندشي اوپه یوي

عجیبه ده ،له مزارشریف نه اته لس زره پوځ له سلوټانکونو سره کابل ته راروانیږي خوجمهوررئیس اووزیر دفاع پري خبرنه وي

ائتلافي جبهي کي اقتدار ورته وسپارلي شي نجیب هم په دي قانع کړاي شوي و، دملیشي قوتونه هم په دي باندي متقاعدشوي وو، ددغه بهرنیولاس وهنوپه نتیجه کي چي قدرت به دغه ائتلافي جبهي ته انتقالیږي، دوطن دحزب دمرکزي کمیټي په اجرائیه شوري کي دنجیب په ګډون درایوپه اتفاق ددي فیصله شویوه چي قدرت به دشمال ائتلاف ته انتقالیږي. ددي لپاه دحمل په میاشت کي دشمال دسکترستي ائتلاف قوتونه کابل ته راوغوښتل شول، دالوتکو له لاري داقوتونه کابل ته لیږل کیدل اودکابل په امنیتي کمربندونوکي ځاي پرځاي کیدل ددي لپاره چي کله دوي ائتلافي حکومت په کابل کي اعلان کړي اوځیني جهادي قوتونه دهغومقابله وکړي نودکابل په کمربندونوکي پراته داداائتلاف ځواکونه وتوانیدلي شي ددوي مخه ونیسي اودکابل نه دفاع وکړي ، دوي غوښتل چي حزب اسلامي تجریدکړي اصلي ویره دحزب اسلامي نه وه چي دائتلاف سره موافق نه وو، دنجیب سره کیناستو اودیوي مخلوطي اداري جوړولوته تیارنه و استعمارغوښتل چي په افغانستان کي داقلیت داسي حکومت راولي چي دضعیف شخصیت ترمشري لاندي دیوي ضعیفي ډلي په لاس یوضعیف حکومت جوړشي ترڅو په افغانستان کي تل تشنج ادامه پیداکړي که دیوقوي حزب او دیوقوي شخصیت ترقیادت لاندي داکثریت په خوښه حکومت جوړ یږي طبیعي ده چي،داحکومت کولي شي چي ملك اداره کړي افغانستان په پښودروي ، یوقوي مرکزي حکومت جوړشي په ملک کي امنیت تامین کړي ، ملي حاکمیت نه دفاع وکړي له سرحدونونه دفاع وکړي اودبهرنیو مداخلاتوپه وړاندي ودریږي په دي خاطرهغوي نه غوښتل چي دغسي یوقوي مرکزي حکومت په افغانستان کي جوړشي ، هغوپه افغانستان کي یادخپلي خوښي یوضعیف حکومت غوښته چي داقلیت حکومت وي اویاداچي دتل لپاره باید په افغانستان کي تشنج ادامه پیداکړي اواستقراراوثبات دي ملك کي تأمین نشي . داسي یوحکومت چي اسلام تنفیذکړاي شي باید په افغانستان کي جوړنشي ددښمن کوشش داوو چي ددنیا په هیڅ ګوټ کي هم باید دجهادله لاري یوحکومت جوړنشي اومباداچي داتجربه په نوروملکونو کي هم تکرارشي اوداسلامي حکومت دجوړیدواوداستعماردمقابلي اودآزادي دحصول لپاره نورقومونه دجهادلاره غوره نکړي په دي خاطرداجهاد ي تجربه چي پس له پیرېو، پیرېونه په دنیاکي دلمړي ځل له پاره یوه قوم غوره کړي داباید ناکامه شي پس له څوارلسو پیرېو دلمړي ځل لپاره په افغانستان کي داسلامي حکومت داقامې لپاره خلکوسلي ته لاس کړي اودخداي (ج) په لاره کي یي جهادپیل کړي داتجربه باید ناکامه شي اودجهاد په پاي کي خلکوته وښئي چي ومولیده چي دجهادله لاري څوك اسلامي حکومت نشي جوړولي بایدائتلافي حکومت په افغانستان کي جوړشي دهمدي لپاره داسلام دښمنانوپه ګډه دجهاددناکامولو اوبیاپه افغانستان کي دیومخلوط اوائتلافي حکومت دجوړولو په خاطریوبل ته لاس ورکړي ، پلان داسي و چي کابل په قوت سره ونیول شي ، دکابل په شااوخواکي ائتلافي جبهي خپل قوتونه ځاي پرځاي کړي چي دنورومقابله هم په قوت سره وکړي لوېي لاري کنترول کړي . لوي، لوي ښارونه ددوي په لاس کي وي، له کابل نه مجاهدین وباسي دکابل امنیتي کمربندنه ټینګ کړي ددوي ګمان همداووچي که په کابل کي دغسي یوه مخلوطه اداره اعلان شي چي ځیني ډلي هم په هغه کي ګډون ولري دکمونستانوحکومت ته به یوه نوي جامه اوپرده ورواغوستلي شي اووروسته هغه داسلامي دولت په نامه مشهورشي . دااعلان وشي چي اوس جهادپاي ته رسیدلي، نوردجهادضرورت منتفي شوي ، دادي مجاهدینو هم په حکومت کي برخه اخیستي، اسلامي دولت جوړشوي ، په داسي حال کي چي قدرت به دکمونستانوپه لاس کي وي ، په اوضاع به دوي مسلط وي، محوري اواساسي پستونه به ددوي په لاس کي وي، لاري به ددوي په کنترول کي وي لویو، لویوښارونو باندي به دوي مسلط وي په حکومت کي به هم اساسي اولویه برخه ددوي وي، که څومیاشتي په دغسي بواسلامي دولت تیرشي مجاهدین به پخپله وسله په ځمکه ږدي جهادي تنظیمونه به خپل جهادي استعداد له لاسه ورکوي بیابه دکمونستانو دمقابلي توان په هیچاکي نه وي . دوي غوښتل چي ببرك کارمل بیرته مسلط کړي، دهمدي لپاره دامریکا ،سي، آي ، اِي او دکي ، جي ،بي دتوافق په نتیجه کي ببرك څومیاشتي دمخه دمسکونه کابل ته راولیږلي شواوددي خبري تضمین شوي وو چي کابل کي به دببرك لپاره کارکیږي اوداسي شرایط به برابریږي چي هغه بیرته قدرت ترلاسه کړي، له ځینوتنظیمونو سره هم په دي باب خبره شوي وه متاسفانه چي ځینو ضعیف النفسه کسانوچي قدرت ته بي ډیره تلوسه درلودله اوحریص وو هغوي دوکه اوپه ائتلافي جبهه کي کمونستانوسره یوځاي شول . الحمدلله دثورپه میاشت کي چي دکابل په لوري مجاهدینوکوم تحرکات پیل کړل اوبالاخره په پنځم دثورکابل دمجاهدینوپه لاس فتحه شوپرته له دي چي یوڅاځکي وینه توبي شوي وي دنجیب حکومت نسکورشوټول دولتي تاسیسات ونیول شول ، په ټولو دفترونوباندي شنه بیرغونه اوچت شول ، خلك سرکونوته راکوزشول دتکبیرپه نعرو اومظاهرو، هغوي دفتحي جشن ولمانځلو . په همغه ورځ مونږاعلان وکړچي نورجنګ پاي ته رسیدلي دنجیب حکومت نسکورشوي باید ټول تنظیمونه یوبل ته لاس ورکړي ، کوم حکومت چي په پیښورکي جوړشوي هغه راشي اوخپل کارپه کابل کي پیل کړي زمونږله نظره هغه توطئه ترره شنده شوي وه په کوم ائتلافي حکومت چي په هغه باندي توافق راغلي وو اوغوښتل ئي چي ددغه سازش له لاري هغه په کابل مسلط کړي دهغه مخه نیول شویده څرمقابل طرف دکابل په لوړه تحرکات پیل کړل سباله ئي له مزارنه پوځونه راولیږل اوله همغي ورځي نه پس په شېزم دثورپه کابل کي جګړه پیل شوه . په کارخوداوه چي دنجیب حکومت دنسکوریدونه وروسته هغه سابقه جګړه دتل لپاره پاي ته رسیدلي واي که دهغوتنظیمونو غلطي اواشتباه نه وي چي په ائتلاف کي شامل شوي اودکمونستانولپاره ئي دنفس ایستلو بیامجال اوزمینه برابره کړه دټولو داباوروچي نور دکمونیزم تغردتل لپاره دافغانستان نه ټول شوي وو اوبیابه مونږ دکمونستانودمشکل سره په افغانستان کي مخامخ نه وو . ولي متاسفانه زمونږځینوورونو اشتباه وکړه کمونستانوته ئي په خپله غیږکي پناه ورکړه . دهغوي سره ئي ائتلاف وکړ اودهغوي په اوږوسواره کابل ته درسیدو شوق یي وکړ . کله چي کمونستانوولیدل هغوي اوس هم دومره رول لري چي بوڅوك قدرت ته ورسوي اواوس هم جهاد ي تنظیمونه هغوي ته اړاومجبوردي کولي شي په بوه ائتلاف کي خپل موجودیت خوندي وساتي ، نورهم مغرورشول بیا خبره دي حدته ورسیدله چي ددغه جاني اووحشي بي هدفه مزدوروملیشویوجنرال په کابل کي واني چي که موږوغواړو دااوس ، اوس رشیددوستم دمزارنه راوبولو اوهغه دتلویزیون له لاري درئیس جمهوریه حیث خپله وینامنعکس کړي هیڅوك هم ددي مخه نشي نیولي ، بل جنرال ئي په مطبوعاتي کنفرانس کي واني چي که موږوغواړوجمعیت اورباني په دوو دقیقوکي پیښورته رسولاي شو ،

زمونږشرطونه یوازي دسولي هئیت نه بلکي ټول ملت اومجاهدینوته دتائیدوړدي

مزارته ددوستم په حضورمشرف کیدلوله پاره درهبرانو ورتګ اوهغه ته رتبي ورکول ، سترقهرمان ، برادرقهرمان اوحماسه آفرین ورته ویل سترمجاهد ورته ویل، دسترجنرالي رتبه ورکول دهغوي غروراوتکبرډیرزیات کړ . فکرئي کولو چي دمجاهدینو رئیس جمهوران هم دوي ته اړدي . دوي داسدپه میاشت کي غوښتل چي خپل قوتونه کابل ته رازیات کړي اوه زره کسان ئي دهواله لاري کابل ته ولیږل، په قیادي شوري کي تپوس وشوچي داقوتونه دچاپه اشاره ، دچاپه اجازه اوامرکابل ته راغلي رئیس جمهوردجواب نه عاجزوو، وزیردفاع ځواب نشوویلي ، په قیادي شوراکي تپوس وشوچي په دغه اونۍ کي په کابل کي لمړي درجه احضارات اعلان شوي دالمړي درجه اخضارات دچاپه امراودچاپه خلاف ؟نه رئیس جمهور ځواب ویلي شو اونه وزیردفاع فرد فردپوهیده چي اصلي رئیس جمهوریه مزارکي دي اواصلي وزیردفاع دکابل په ځاي هلته په مزارشریف کي دي . هغه اوه زره کسان دهواله لاري درئیس جمهورد موافقي نه پرته لیږلي شي . هغه په کابل کي درجه یك جنګي احضارات دوزیردفاع دموافقي اودخبریدونه پرته نیسي معني ئي داده چي هغه اوس داسي محسوسوي چي اصلي رئیس جمهوردي دي . اودوزارت دفاع پست هم دده په لاس کي دي چیرته چي یوضعیف ټولګي دخپل ځان نه ددوي سره ائتلاف کوي انجام به ئي داوي . جمعیت چي په خپله قدرت ته درسیدلو طبیعي قدرت اوتوان په ځان کي نه درلوده چي دملت له لاري راشي یاپه خپل قوت دبروسي اوداتکاله لاري راشي اوکوشش ئي کولو چي دا خلادکمونستانواو ملیشو سره دائتلاف له لاري دکه کړي او دهغوي په زورکابل ته ورسیږي طبیعي ده چي اوس به زوروړهغه سره همدامعامله کوي . مادپغمان په جلسه کي داستاذرباني نه یوه خبره اوریدلي چي سخت تأسف مي ورباندي راغلي هیڅ کله به ئي هیره نه کړم. ماته وایي چي دجنګ په شپواوورځوکي جنرال مجیدماته تیلفون وکړچي دادي رشیددوستم یولوي قطارچي اته لس زره وسلوال کسان په کي دي دسلوټانکونو سره دمزارنه راخوځولي اوجبل السراج ته دهغه یوه برخه رارسیدلي سبابله ورځ کابل ته داخلیږي . استاذرباني داخبره مخکي اوریدلي وه چي دده په خلاف کودتاکیږي اوچي دااطلاع ورته رسیږي طبیعي ده چي وارخطاکیږي ، هغه وویل چي ماورته وویل چي داقطارپه نه راځي اوموږددي مخالف یو، نوماورته وویل چي عجیبه ده دمزارنه اته لس زره کسانو قطاردسلوټانکونوسره راخوځیږي څوسوه کیلومتره لاروهي دکابل اتیاکیلومتري ته رارسیږي له هغه نه بعدرئیس جمهورته تیلفون کوي چي دادي قطارسبابله ورځ کابل ته رارسیږي ته دي خبروي، نه درئیس جمهورموافقه په کي شته ، نه وزیردفاع خبردي ، نه په کابل کي دکابیني یوغړي واقف دي ، فیصله په مزار کي کیږي داته لس زروکسانوقطارجوړیږي ، سل ټانکونه خوځیږي دوه نیم دري سوه کیلومتره لاروهي دکابل اتیاکیلومتري ته رارسیږي له هغه نه وروسته بیادکابل یوجنرال فقط تیلفون کوي چي ته دي خبروي دادي قطارراروان دي سبابله ورځ رارسیږي اورئیس جمهورفقط دومره وائي چي موږددي قطاردرارسیدوسره موافق نه یو ، موږددي مخالف یوهغه هم په دي خاطر چي په دي باندي اعتماد نلري چي مبادادلته کودتاونکړي اوپلان هم همغسي وو داقطارددي جنګ نه دمخه جوړشوي وو چي اوه زره کسان ئي مخکي راغلل اوداااته لس زره چي دوي ئي ادعاکوله دااته لس زره کسان نه وو بلکي دوه نیم دري زره کسان هغوي برابرکړي وو داهم راتلوخودویري اوخوف دراپیداکولو لپاره یاددوي دداده کولو لپاره داخبره یي کړي وه چي تشویش مکوي پوځ رارسیږي ، قطاررارسیدونکي دي بیا به ددي جنګ موازنه تغیرمومي . پلان همداووچي داقوت به کابل ته راځي بیابه په کابل باندي کاملاً خپل تسلط قائموي دکابل نه به مجاهدین تصفیه کوي بیابه دکابل شااوخوادمجاهدینوپرسنګرونو باندي حملي کوي ترماهیپر، پتخاك ، ریشخوراوچهارآسیاب پوري همدارازترپغمان اوده سبزبوري به دامنطقه ټوله کنټرولوي امنیتي

(۷)مخ



بالاخره په افغانستان کي دخونړي جنګ مسؤليت دقاضي حسين احمد په غاړه؟!

۲ قريب الرحمن "سعيد"

په دې اساس که قاضي حسين احمد هلته په افغانستان کي ديوه اسلامي "مستحکم حکومت دجوړېدو له پاره کومه لارنيولي نوهغه به هماغي ته حق ښکاري ځکه قاضي صاحب دافغانستان په ټولو امورو کي ژوراوعميق معلومات لري دټولو مشرانوسره اوبيا په ځانګړي توګه داسلامي تحريك پوري اړوند ځلوروتنظيمونو ترمنځ ئي دتل له پاره په پوره اخلاص هلي ځلي کړي اوکوي ئي. هغوي ته دتنظيمونودکارساحه اواستعداد ښه معلوم دي هنداعلت وچي هغي ترټولودمخه داسلامي تنظيمونوترمنځ ديووالي کوششونه وکړل، خوچي کله پوه شوچي ځيني مشران دځيني تعصباتوپه اساس خپله ځانګړي لارلري نوممکن تشخيص ئي کړي وي چي که ټول نه وي نويوبادوه خودي په هرصورت يوځاي وي، اماتراوسه پوري به چادقاضي صاحب حسين احمد څخه نه وي اوريدلي چي هغه شخص دي برسراقتدارشي اوهغه بل دي برسراقتدارنه وي، بلکه هغه بيابيا استادرباني ته مشوره ورکړي چي دکمونستانوڅخه ځان خلاص کړي اوداسلامي حزب سره کښيني ځکه دادواړه تنظيمونه دافغانستان په ملت کي خاص ځاي لري اوهمدوي کولي شي چي دافغانستان راتلونکي دنورواسلامي تنظيمونو ترڅنګ وټاکي لکه څنګه چي حکمتياروبلي چي زه داستادرباني سره نورکوم مشکل نلرم بواځي مشکل دکمونستو افرادوموجوديت دي په همدي توګه نه بواځي په اسلامي نړي کي قاضي حسين احمد خپل غږيه پوره جرأت سره پورته کړي بلکه داسلامي تحريکونو زياتووګروهو ملاترکړي، پخپله دجمعيت العلماي اسلام مشرانومولانافضل الرحمن اومولوي سميع الحق هم په دې هکله اندېښني ښودلي . جماعت اسلامي خودموضوع د ښه معلومات اوتفتيش

په خاطرخپل بولوړرتبه پنځلس کسيزه هيئت کابل ته واستاوه اوهغي وروسته هغوي په دې مطمئن شول چي په کابل کي اصلاً حکومت دپخوانيوکمونستوځواکونوپه لاس کي دي اوداهغه خبره ده چي پخپله مولوي صاحب خالص دقيادي شورانه داستعفاپه وخت کي اعلان کړه . دقيادي شورانه دمولوي صاحب دوتلو سترعامل دکمونستوملېشو موجوديت اوپه واکمني کي دکمونستانواثرورسوخ و . او مولوي صاحب دخپل ايماني مسئوليت دنه اداکولو داندېښني په خاطرخپل دفتر بيرته پېښورته انتقال کړ . که څه هم مولوي صاحب کولي شي خپل دفاتردپېښورپرځاي په ننګرهارکي ځاي په ځاي کړي . همدارازقاضي صاحب حسين احمد په دې پوهيږي چي په کابل کي جنګ دکمونستانو اومجاهدينوترمينځ دي، هلته دخپل منځي برتري موضوع مطرح نه ده قاضي حسين احمد لکه څنګه چي مولوي صاحب محمدنبي دبګراميوپه هغي غونډي کي چي استادسياف اومولوي خالص هم په کي ګډون درلودحکمتيارته وويل چي " په خداي قسم چي ستاتائيدکوو، تاسره ولاړيو، خداي خبرکه ستاسي دمجاهدينوقوت نه واي نوله موږسره به په کابل کي دي کمونستوځواکونوڅه کول اوبيائي استادسياف ته مخ راواړاوه اوورته ئي وويل چي ددي ملګري ترڅنګ دي ودريږه چي دا(حکمتيار) بواځي پري نږدي هم دغه حقيقت درك کړي، اوکه نورهيڅ نه دي شوي نودکمونستوملېشو په خلاف ئي زمونږدځيني کمزوروجهادي قيادتونو پرخلاف په پوره جرئت سره اوازپورته کړي .

دبلي خوانه قاضي صاحب حسين احمد دجنرال اورنګ اودکمونست ګوند دمرکزي کميټي غړي ببرك شينواري چي دمولوي صاحب خالص قوماندان عبدالحق ته اودتني اوجبارڅخه چي ... اسلامي ته تسليم شوي وو د ... مدارازدببرك کارمل دولي دتسلط دحقيقت ډيرښه درك کړي . هغه ته دامعلومه شوي چي تني دکودتادهماغي وخت نه راپديخواپه اسلام آبادکي دکورينوميلمه دي، جبارمجاهدينوته دتسليميدونه وروسته دري مياشتي کيږي چي په هلمندکي دي اوخپلي ولسوالي ته هم نه شي تلاي اووطن جاريه هم سبايابله ورځ دجنرال رفيع په څيرداائتلافي دولت له ګريوان نه سرراوباسي، خوداټول عناصرهغه خلك دي چي دمجاهدينودقيادي شوراچي داوه تنظيمونوټول مشران په کي حاضرو دعمومي عفوي نه په استفاده سره دلته اوهلته تېښتېدلي، داعفوه سياسي وه خودملت حقوق په دي خلکوپاته دي . هغه ورځ به لري نه وي چي دوي دملت ترمخه حاضرشي، داچي ځيني خلقي ئي دخپلو اغراضو په خاطرپه هرڅه کي مخته مخته غورزوي بېله خبره ده، فکرنه کوم چي په حزب اسلامي کي به داسي څوك نه وي چي مجرموعناصروته په دولت کي دګډون په خاطرپناه ورکړي اوبيائي دجنرال دوستم اوجنرال آصف په څيرسترجنرال اولوي درښېژوټاکي اوبيائي دجنرال رفيع په څير دجنګي دجرمونوڅخه بري اعلان کړي .

خوهغوي چي چاته سياسي پناه يوړه او ديوه عادي فردپه حيث ئي ژوند اختيارکړنودهماغه وعدي سره سم چي دقيادي شوراځواورسره شوي بايد رويه وشي اوکه نه برعکس به داسلام په خلاف کاروي .

په دې اساس هغه څوك چي کمونستان دخپل ځان سره په اقتدار کي دګډون په خاطر رامخته کوي، اوباورسره داقتداردګډون وعده کوي دابه ترټولو سترخيانت وي، قاضي صاحب په دي هم پوهيږي چي دلته د برتري مسئله مطرح نه ده بلکه داسلام مسئله مطرح ده اوداسلام مسئله په دي خاطرمطرح ده چي په کابل کي داوه مشرانوڅخه بواځي استادرباني ناست دي اوپاته څه پاکستان ته راغلي اوڅوك په چارآسياب کي ناست دي نوکه چيري دامشران مطمئن واي نودوي به ولي دکابل څخه دوه خپلي دوه پردي کولي اوپه تيښته به راتبتيدل، ترهغي چي ماته معلومات شته مولوي صاحب خالص اومولوي محمدنبي محمدي په دي وروستي سفرکي بالکل دملېشوپه خاطردکابل ښارته ورنه غلل . اواستادسياف به دپغمان نه ترېګرامبو پوري ۱۹ ساعته منزل کاوه هغه به دادنيم ساعت لاره هاغسي په وردګواولوګرباندي په ۱۹ ساعتوکي وهله . اوس داقضاوت کيداي شي چي قاضي صاحب څومره داسلامي نظام سره مخلص دي اوهغوي چي داسلامي نظام له پاره جنګيدلي هغوي څومره مخلص دي !!

زه يوځل بيا دمولوي صاحب دبيان لوري ته دتائيد په خاطرځم چي هغه واني "موږخودقاضي صاحب په برخه کي داتصورهم نه شوکولاي چي دافغانستان دبربادي له پاره دي يوه خبره هم وکړي ." بلکه که دافغانستان دښمنان هم دافغانستان دبربادي له پاره کومه خبره کوي نوسهوه کوي ځکه موږته خداي داسي پروفيسوران راکړي چي هغوي داملت پخپله تباه کوي دافغانستان دتباهي له پاره پخپله پروفيسور رباني اوبلوبان ئي کفايت کوي ....

ذبیح الله "قریشي" قسمت چارم

هرقدر کوشیدم ازین زندان (پولیخنیك) براي اینکه فامیلم سخت پریشان بود، برآمده /نتوانستم شب راسپري نموده شام فردا به همکاري یکنفر دیگر ازطریق دیوارفرارنمودم.

هنوز به خانه نرسیده بود که دوموتر جیپ مقابل دروازهٔ حویلي من ایستاده بود، از نیمه راه برگشته تا ناوقت شب به مسجد سپري نموده بعداً به خانه رفتم.

هنوز نماز صبح خوانده نشده بودکه باز همان دوموتر جیپ عقب من آمده ،مرا باخودبردند . درانجا یك آشناي خود رادیدم ازوي پرسیدم شما چه مي کنید گفت والله من براي خریداري آرد به مندوي رفته بودم ،مرادرموتر انداخته گفتند که توو کیل فلان ولسوالي در لویه جرگه هستي.

آن دوست که جبراً به لویه جرگه (!) برده شده بود، درصحبتش ادامه داد ، درچوکي عقب من یك نفر جنرال نشسته بود ، وي براي من یك پاکت را داده گفت این مربوط شماست.

هنگامیکه سر پاکت راباز کردم به نام من آن مکتوب نوشته شده بود و همچنان تذکر رفته بودکه این مکتوب چاپي راشما قرائت کنید ، نامه را سراپاخواندم درآن مجاهدین بویژه آقاي حکمتیار کوبیده شده وپشتیباني وتایید از رژیم مزدور صورت گرفته بود . بادیدن این نامه سراپایم مي لرزید مکتوب را دوباره به آن جنرال داده گفتم : !

این رابایدحزبي ها (پرچمي ها) بخوانند نه بیطرفها . دوستم ادامه داد درهنگامیکه یك موضوع مطرح بحث قرار مي گرفت ، هاتف رئیس لویه جرگه (!) مي گفت اگراین مساله این طور شود رأي شماچیست ؟ چون اکثریت کرسي ها ازطرف کمونستها اشغال گردید ه بود

آنهابه رسم تاییدازمساله هردودست خویش رایکجابلندمي نمودند ودرین وقت رئیس لویه جرگه (!) دست هارامي شماریدبازاعلان مي نمودکه این ماده به اکثریت راي تاییدشد .

هکذاگفتارافرادي که درلویه جرگه صحبت مي کردند، قبلاً ازطرف حزبي هاترتیب داده شده بودکه کاملاً به نفع رژیم مي چرخید .

هرگاه شخصي درصحبت هاي خویش ازرژیم وببرك قدرداني مي نمود، گفتاروي رابه قومنده " هاتف " رئیس لویه جرگه به « ډیره ښه » بدرگه مي شد واحیاناً اگرکسي ازجمله اعضا جرأت مي کرد وروي مشکل وطن صحبت مي نمودومطابق خواست شان نمي بود" هاتف " مي گفت : « کښېنه دومره وخت نشته »

بحثي پيرامون اهل حل وعقد

همچنان لویه جرگه یي راکه درسال ۱۳۶٦ داکترنجیب به راه انداخت رسواترومیان تهي ترازلویه جرگه هاي قبلي بحساب مي آید چه همه کمونست هاي دوآتشه بنام وکیل هاي مردم جمع شده بودند ونجیب درصدر مجلس نشسته بودورئیس لویه جرگه راي شماري مي کرد. آنها بدین ترتیب به حکومت هاي غیرقانوني وانساني خویش صبغه مردمي مي بخشیدند این «مشت» نمونه خروار بودکه مابدان غرض اختصار مطلب اکتفامي نمائیم وبد نخواهدبودتاسري به جرگه دورمیرویس خان واحمدشاه بزنیم که روي آن ها تاحدي حساب مي شود .

درین دوجرگه سران اقوام بدون جبروفشاردورهم جمع شده وبه فیصله هاي دست یافتند، فقط میتوان درسطح سیاسي کشورازین دو جرگه که بدون مداخله اجانب صورت پذیرفت وآن (جرگه ها) توانست مشکل آنوقت را دریك محل حل نماید به نیکي یادکرد، ولي باوجود آنهم نمي توان از آنهاکه به عنوان لویه جرگه که متشکل ازتمام اقوام وقبایل افغانستان باشدیادکرد .

تاریخ گواهي مي دهدکه این هردو جرگه درقندهارپیش آمد وحتي ازسران اقوام ولایت پکتیاکه نزدیکترین ولایت به قندهارمیباشد ، نیزدعوت صورت نگرفته بود، چه رسدبولایات شرقي وشمالي افغانستان . گرچه مشکلات زیادي از طرف اجانب موجودبودکه شاید مانع این امرشده باشد. ولي به هیچ صورت نمي توان ازجرگه هاي منعقددرافغانستان حتي جرگه میرویس خان واحمدشاه به عنوان جرگه سراسري اقوام افغانستان ویك عنعنه ملي که جوابگوي نیازمندي هاي مجتمع بوده باشدیادآورشد .

چه جرگهٔ مخفي که در۳۰ میلي شمال شرقي شهرقندهاردرسال ۱۷۰۹ دایرگردیدواعضاي جرگه رهبري حاجي میرویس خان راپذیرفتند ، ازچندناحیه بود .

مساعي دوامداروقابلیت ابتکارمیرویس خان ، نفوذ وقدرتي که درزمان حکومت صفوي ها درقندهارازجهت اینکه خودکارمند پرقدرت دردستگاه دولتي بود، باعث شد تااقوام به ریاست وي تن دردهند ، وعامل اساسي دیگر را علاوه ازعوامل فوق نویسنده افغانستان درمسیرتاریخ به نقل ازه دپښتو تاریخ » نوشته قاضي عطاء الله بروسي مي کند: عامل پیروزي دیگرمیرویس خان این بودکه خودش ازخان هاي قبیله هوتکي غلجائي ، خواهرزاده عشیره توخي ودامان قبیله سدوزائي ابدالي بود .

گرگین حاکم حکومت صفوي ایران درقندهار، ابدالي هارابا سرنیزه درمناطق بین گرشك وفراه تبعیدنمودودرعوض باغلجائي ها روش بهتردرپیش گرفته و خان هاي ایشان راباخودنزدیکترساخت که بقوت ورقابت غلجائي هادربرابرابدالي ها ایستادگي کرده نتوانتند ولي وحدت اقوام باعث گردیدتابراردوي صفوي وگرجي قیام آزادي خواهان پیروزگردد وحکومت آزاددرسال ۱۷۰۹ اعلان شود وتمام دري زبانان تاجك ، هزاره ، ازبك ، بلوچ باپشتوزبانان دریك صف واحد درمقابل خارجي هاقرارگیرند .

نویسنده درین راستا مي نگارد : البته این حکومت درقندهاربوجودآمد درولایات غربي افغانستان چون سیستان ، فراه ، هرات ، مرو، نیشاپور، مشهدوغیره حکام وسپاه صفوي مسلط بود. درولایات شرقي فرماندهي دولت هندوستان تاکابل وغزنه قایم بود. این مناطق که درتسلط خارجیها بودسدطویل بین حکومت قندهارو ولایات خودمختارشمالي افغانستان بشمارمیرفت .

بناءً ازگفتارفوق چنین استنباط میگرددکه نقش کلیدي را درجرگه ۱۷۰۹ غلجائي ها، ابدالي ها وتوخي هاکه ازاقوام بزرگ قندهارمیباشد دردست داشته هرکدام حاجي میرویس خان رابه اساس ارتباطات فامیلي وقومي بحیث رئیس جرگه پذیرفتند که درین انتخاب ازدرایت وآگاهي سیاسي حاجي میرویس خان نیزچشم پوشي کرده نمي توانیم بناءً انتخاب حاجي میرویس خان نقطه شاذي است درتاریخ وآنهم دریك منطقه افغانستان ، که درآینده ازلویه جرگه ها انتظارهمچویك انتخاب راداشتن دلالت به عدم آگاهي اجتماعي وسیاسي مي نماید .



ګران حکمت الله حسر ورور!

خداي دي بريالي لره

ستاسي رالېږل شوي ليك موولوست ډيرښه نظرمو پکي ليکلي وخوډېراوږدوو دشپږمخ نشريي دشهادت په ورځپانه کي ګنجايش نه درلود . نودادي يوه برخه موديليك درته نشرته وسپارله پس له دي خپل نظريه لنډول سره ليکه ځکه چي دلته راغلي ليکونه ډيردي اوهرڅوك بي ځواب ته ليواله دي .

په درنښت

دشهادت دورځپاڼي محترمي اداري ته !

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

لومړي بايد زه ديوه مسلمان مجاهد په توګه د W.R.R په ځواب کي چي دکابل څخه ئي بي بي سي راديوته په يوليږل شوي ليك کي ويلي وو چي نورجهادبس دي اودشنبي په شپه چي د۱۳۷۱ کال دميزان دمياشتي په ۱۷ مه نېټه د بي بي سي دراديوڅخه په نشروورسيدووايم چي الله تبارك وتعالي په خپل پاك کتاب قرآن عظيم الشان کي موږته دفسق اوفساد له منځه ورلولپاره دمبارزي اوجهادامر کړي دي زه داخبره هم خپلومسلمانانو وروڼوته په ډاګه اعلانوم چي که دروسانوپه وخت کي جهادفرض ونواوس دملېشه وو په وخت کي فرض هم دي داځکه چي موږپخپلو سترګو ليدلي چي درشيددوستم وحشي ملېشي اودشمال دنامقدس ائتلاف شوم هدف ته دورسيدو په خاطردافغانستان په مسلمان ملت خصوصاً دکابل په مظلوم ولس باندي دومره وحشت اوظلم وکړ چي د[illegible]وسانوپه وخت کي نه وه شوي دمثال په توګه دروسانوپه موجوديت کي دچاکورنه و لوټ شوي دچاناموس له کوره نه و ايستل شوي دلاروپه سرپه دوکانونواوموټروچوراوچپاول نه ولګيدلي دچاپوزي اوغوږونه نه و پري شوي چي اوس دمسعود اودوستم دشوم هدف ته درسيدوپخاطر دائتلاف په نتيجه کي داکارونه وشول چي ددي خبري شاهدان ټول دنياوال دي، ددي مظلوم ملت په سر، مال اوناموس باندي دتيري مسئوليت به دخائن مسعوداو ملحددوستم اووطن فروش کارمل اوهمدارازدنوروملګروپه غاړه به بي وي . نواوس قضاوت تاسوکړي چي جهاددغوملحدينو اومنافقينوپه مقابل کي فرض دي اوکنه . اوپه پاي کي زه د W.R.R څخه غوارم چي خپلي غلطي خبري بيرته راخلي او نوردجهادپه باب منفي تبليغات ونه کړي . په درناوي

#####

دکورنيوچاروپه وزارت کي اختلاس

د«شهادت» ورځپاڼي محترمي اداري ته .

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

په ډيره زيانه مينه اوخاصه علاقه د يادوني وړبولم چي د «شهادت» ورځپانه په تېرو پنځلسو کالو کي د روا اوسپيڅلي جهاد په بهيرکي دافغانستان مسلمان ،غيرتمن اويا شهامت ولس ته درښتني خدمت په خاطر په زړه پوري خدمتونه کړي اوکوي يې ، چي ورته لازيات برياوي غوارم . هيله ده چي دغه ورځپانه به دخپلي سپيڅلي عقيدي اوافکاروپه درشل کي دشهيد و افغانانو دهيلو اوپاکو ارمانونو دسرته رسولو په اميد به په هيواد کي دملي وحدت ، دبيا رغونتي ، سمسورتيا ، آبادۍاو دصلح اوامنيت فضاداسلامي اخوت په هنداره کي ټولو افغانانو ته دخدمت مصدروګرځي.

ګران اومحترم ورور د«شهادت » ورځپاڼي چلونکي !

د ۱۳۷۱ کال دميزان د (۲۳) نيټي د«شهادت » ورځپاڼي د (۹۳) شماري په دريم مخ کي دراغليو ليکونو ترعنوان لاندي (زيه کورنيو چارو وزارت اختلاس) ترسرليك لاندي مضمون اوراپور مي يوه هفته وروسته ترلاسه کړاوپه ډيرتعجب اوحيرانتيا سره مي ترپايه ولوست اوپه ډيرژور فکرسره مي ليکونکي اوپه يادشوي اختلاس شريك کسان چي ماته هم نسبت شوي وځيره ، دتعجب خبره داده چي دليکونکي اوديادشوي اختلاس شريك کسان په يوفاميل پوري تړلي کسان ښکاري چي په خپل منځ کي دوستي ، اشنايي او قومي مناسبات لري اوداسي معلوميږي چي دتوري پردي ترشا کوم جوړشوي بدنامه تبليغي پلان پروت دي اوفکرکوم چي شاه محمود (اکبرخيل) ددي ريوټ اصلي ليکونکي نه وي . داريوټ يوه دسيسه ده اواختلاس وجود نه لري چي زه بي په لاندي ډول جوابوم !

ليکونکي اومحترم لوستونکي دي پوه شي چي په قراردادي مسايلوکي اختلاس جوړول دلاندي حسابي قدمو(قراردادي ، هئيت معاينه ، دډيپو معتمد ،محاسب ، داکمال اوتخصص شعبه ، دمالي رياست دمحاسبي اويودجي شعبات) نه پرته امکان نه لري ځکه چي قراردادي جنس بيزمرکزي ته وړي اولاً جنس دهيئت معاينې له خوا منل کيږي اوفورم (۸) ترتيبوي چي هئيت معاينه بي امضا کوي اوبيا بي قراردادي دتسليمي اومعتمدېږي دجنس داخيستلو په فورم امضاء کوي دفورم غير قيد وثبت خوري اوبيا بي محاسب د قيد وجمع صفحه وهي اونقل بي قراردادي ته ورکول کيږي ، متباقي نقلونه مربوطو شعباتو ته ځي، قرار دادي دقرار داد قسطونه چي تکميل کړل نوخپل فورمونه داکمال شعبي ته وړي په شعبه کي فورمونه توحيد کيږي (م اوم)او (م۱۱) ترتيبوي مدير اکمال ،امرعمومي رئيس لوژستيك او وزيربي امضاکوي اوحواله رياست مالي ته استول کيږي رياست مالي کي م۱٦ ترتيب دکنترول دشعبي له تصديق نه روسته دکابل له مستوفيت نه چك اخلي اوبانك پيسي ورکوي چي ددي مسؤليت دتفتيش تعليماتنامي په ۵۱ ماده کي اودمحاسب عينيات مشترك په تعليماتنامه کي په (۱۹) ، (۲۰) او (۲۱) ماده کي په دري قدموپوري تړلي ده .

۱- اجرائيوي مسولين « هئيت معاينه ،معتمدين ،محاسبين او امرين خدمت) چي اسنادجوړوي.

۲- کنترولي مسولين : « مديران اکمال ،مديران لوژستيك اوامران عمومي خدمت» چي تصديق کوي.

۳- اوپراتيفي مسولين : « قوماندانان اورئيسان لوژستيك » چي تائيد وي بي.

اوس نوقضاوت خپله لوستونکو اوورځپاني محترم چلونکي ته سپارم چي يو رئيس دتعليم اوتربيه چي هيڅ وظيفوي مسؤليت نه لري اوبيا يورئيس عمومي لوژستيك بامعاون څرنګه په تنهايي توګه د (۷۰۰ لکو) اختلاس ترتيب کولاي شي اويوعالم ،بادانش اومجاهد وزير به چي دليکونکي په اعتراف سره دارايي ته هم ضرورت نلري څرنګه به (۷۰۰ لکو) چك له کوم مستوفيت اوبانك نه ورکړي اوياخوديادشوي اختلاس پوري نورتړلي کسان چي هيڅ دولتي مقام اووظيفه نه لري په کوم سالم عقل اومنطق به دنوموړي اختلاس فرعي عاملين وشميرل شي.

له بلي خوالیکونکي پرما ديوخاين اوله وطن دفرار نارواتورلګوي مګرپه دي هم خبر وي چي زماد (۲٤کلن) خدمت په دوران کي خپل ټولي کورني ، امرانو اوهمکارانو ته دپوره صداقت او ايمانداري بشپړ ثبوت وجود لري چي دنموني په مثال لاتر اوسه پوري ديو شخصي کورملکيت هم نه لرم . داسلامي دولت په جريان کي مي ترهغه لحظي پوري په صادقانه توګه خدمت وکړ چي د وظيفي په جريان کي شديداً زخمي شوم اوپه چهارصدبسترکي له يوي مياشتي بستر وروسته ددولت په اجازه هم دلته ترتداوي لاندي يم.

محترمو لوستونکو او د« شهادت » ورځپاني قدرمنو چلونکوته داڅ ورکوم چي زماپه حساب دا اختلاس وجود نه لري اوليکونکي په ډيرخصمانه توګه غواړي پورتني فاميلونه چي داشنايي خپلوي اوقومي اړيکي لري يو دبل پرضد راوپاروي اوخپلي کرغيړني هيلي دپورتنيو نامداره قومي اشخاصو په بدناملو سره ترسره کړي اوزه يقين لرم چي وچي خاورې په ديوال پوري نه نښلي ، دروغجن دخداي پاك مخ توري دي، کوربارترمنزل نه رسيږي.

په پاي کي دشهادت ورځپاني له محترمو چلونکو څخه مننه کوو چي موږته بي وخت راکړ اوهيله ده چي زمونږجوابيه ليك نشر ته وسپاري په درناوي.

دکورنيوچاروووزارت دلوژستيك رياست مرستيال بريد جنرال بزرجمهر

محترم بريدجنرال بزرجمهر ليك مو راورسيد . دشهادت ورځپاني په هکله موجي کومي پيرزويني وراندي کړي مننه او سلامونو ته موعليکم والسلام ،محترم جنرال صاحب موږد " راغليو ليکونو " ستون په همدي خاطر پرانيستي چي هرڅوك دحالاتو اووضعي په هکله خپل نظر څرګند کړي اويادخپلو سترګو ليدلو حالاتو په باره کي نوروته معلومات ورکړي کيداي شي په دي کي ځيني ورونه سهوي اواشتباهات وکړي اوياجعلي نوم وليکي ، پرځينو محترمو شخصيتونو توررولګوي ،ولي څرنګه چي زمونږ اخبار اوهمدغه ستون دټولو خلکو پرمخ خلاص دي نوهغه هم کولاي شي خپل ځواب ووايي ترڅو مسئله روښانه شي.

په همدي خاطر دادي موږ ستاسي ځوابيه ليك هم کټ مټ خپروو اودليك داصل ليکونکي څخه هم هيله کوو چي په دي باره کي وضاحت وکړي اوياله دغسي ناروا تورونو څخه چي دمسلمانانو دخپګان سبب ګرځي ځان وژغوري . ستاسي د نوروليکونوپه انتظار.

اداره

شوراي دزدان

محترم الجنیرغمجن !

نامه تان مواصلت کرد . مااز هراسم وعنوان بخاطررعایت ادب ووجیبه روزنامه نگاري به اسم اصلي ورسمي اش یادمي کنیم ،اگرشما اعتراضي دارید، بنگارید ولي مستند ومقنع

(اداره)

نظام فدرالي

۴ عبدالمبين يوسف زي

بنا؛ مردم دقيق فكرميكنند دروقت انتخابات پروگرام هر تنظيم رامدنظر گرفته به كانديد هاراي ـ ميدهند . نظام فدرالي بسيار ديموكراتيك نيز ميباشد بخاطريكه درمراحل مختلف براي مردم درامور حكومتي سهم ودخالت ميسر ميشود.

برعكس درنظام وحداني (Unitary)مردم صرف دريك سطح فكر ميكنند وتقاضاهاي ملي رابيشن روگذاشته فيصله قيادت راميكنند . ونيز چونكه براي مردم مواقع حصه گرفتن درامورحكومتي نسبتاً كم اند.به اين لحاظ نظام وحداني (Unitary) نسبتاً كم ديموكراتيك ميباشد.

٥- آزادي انفرادي بهتر : دردولت فدرالي درصورت تقسيم اختيارات ميان حكومت درمركز (مركزي) وحكومات ايالتي هيچ حكومت درحدود حكومت ديگر مداخلات بي جائي نمايد به اين خاطر مردم زياده آزادي رامحسوس مي نمايند وموجوديت يك نظام آزاد وخودمختار قضايي نيز در آزادي انفرادي مردم مساعدت مي نمايد.

مگر درنظام وحداني (unitary) چون تمام اختيارات دريك جا متمركز مي شوند چيزيكه صورت اجاره داري را اختيارمي نمايد . به اين اساس آزادي مردم هم محدود ميشود.

اين بود فوايد نظام فدرالي ونقصانات نظام وحداني حالابيائيد ببينيم كه نظام وحداني چه خوبي ها دارد ونظام فدرالي كدام نقصاناترادارا ميباشد.

فوايدنظام وحداني ونقصانات نظام فدرالي .

(۱) حكومت مستحكم : خوبي بزرگ نظام وحداني اينست كه تحت اين نوع نظام يك حكومت مستحكم به وجودمي آيد وچونكه حكومت مركزي مالك هرنوع اختيارات ميباشد خواه آنها به سطح ملي باشند يامحلي ومنطقوي وهم حكومت مركزي به نهايت جرات هرنوع پاليسي كه بخواهد اختيارنموده ميتواند حكومت اين خطر رامحسوس نميكند كه كدام تنظيم يااداره ديگر (حكومتي) مخالفت اقدامات حكومت مركزي راخواهد كرد.

مگردردولت فدرالي اختبارات حكومت مركزي محدود ميباشد براي امور داخلي كدام پاليسي معين رااختياركرده نميتواند درهرقدم خطرمداخلت حكومات ايالتي حس شده وخطر مخالفت آنها نيز محسوس مي شود. (مثل حكومت مركزي بي نظير بوتو وحكومت ايالتي نوازشريف درسال (۱۹۸۹ م) بعضي اوقات درايالات هاي مختلف بالاي يك موضوع قوانين متضاد به وجودمي آيند ومنجر به ضرروحدت ملي ميشوند چنانچه درامريكا دربعضي ايالات قوانين عروسي وطلاق وغيره مختلف اند حال اگر دريكي ازايالت ها كدام كارجرم وگناه باشدوكسي بان جرم ارتكاب نمود به ايالت ديگري فرارنمايدودرآنجا آن كار جرم شمرده نشود پس براي مجرم سزا دادن مشكل ميشود واين كار رجحان جرايم رانوازش ميدهد.

(۲) معاون درترقي كشور: دردولت وحداني (Unitary) ضروري نيست كه قانون اساسي استوا روتحريري باشداگر قانون اساسي سخت باشد ميتواند به د گر-گوني حالات كشور مساعدت نمايدوسد راه ترقي مردم نميشود.

دردولت فدرالي قانون اساسي بايد تحريري واستوار باشد مگر بسااوقات نظر به خواهش ومطالبه هاي ملت اگر درقانون اساسي بطور عاجل ترميم صورت نگيرد مملكت شكار بحران ها ميشوداين چيز به سالميت (تماميت ارضي ووحدت ملي) كشور نقصان ده است.

(۳) بچت دراخراجات وتكس ها : درنظام وحداني (Unitary) اخراجات بسياركم ميباشند بخاطري كه از يك مرجع پرداخت وكنترول ميشوند ومردم نيز يك دفعه تكس مي پردازند ودرخزانه حكومت جمع ميشود وبراي بهبود عامه از آن توسط حكومت استفاده به عمل مي آيد وچونكه درآنجا صرف اداره يك حكومت يعني مقننه،اجرائيه وقضائيه موجود ميباشد درانصورت بالاي آنهاخرج نيز كمتر صورت ميگيرد.

مگردرنظام فدرالي اخراجات حكومت از اول الي اخردوبرابر (دبل) ميشوند بخاطري كه دوحكومات دركشور وجود داشته ميباشند پس مردم بايد دودفعه تكس پرداخت نمايند يك دفعه براي حكومت ايالتي و دفعه ديگربراي حكومت مركزي يعني (Federal Gov-ernment) ومردم نسبتاً زياده زير بارميباشند.

٤- آزادي از گرفت قضاء : درنظام وحداني (Untary) ضروري نيست كه قضا بالاي حكومت برتري داشته باشد وحكومت اينرا محسوس نميكند،

كه كدام قانون منظورشده توسط حكومت از طرف قضا رد ،غير آئيني وياخلاف قانون اساسي قرار داده ميشود علاوه از اين درميان حكومت (مركزي) وادارات حكومتي ولايتها كدام نوع تنازعات نيز بروزنمي نمايد بخاطريكه مرجع اصلي قدرت همانايك حكومت (مركز) بوده ووي ميتواند از ادارات محلي ومنطقوي خويش اختيارات وقدرت را سلب نمايد ويادران كمي وبيشي نمايد كه درمقابل اينطورحكومت ها جنگ وجدل نيز پيدا نميشود.

برعكس آن چون دردولت فدرالي دونوع حكومات موجود اند ودرباره اجراي امور اكثراً ميان حكومت مركزي وحكومات ايالتها اختلافات وجدال صورت مي گيرد يابه كدام علت ديگري ميان هردو حكومات كدام تنازع پيداميشود .دراين حالات اولاً حكومت مركزي ضعيف ميشود وثانياً به قضامنحيث محافظ برتر قانون اساسي موقع مداخله پيداميشود وقضا قانون تدوين شده توسط هردو حكومات راميتواند خلاف قانون قراردهد وبه اينطور دركشمكش بر سريك مسئله خورد پروگرام ها ي ترقي هردو حكومات به تعويق افتيده وبه ضرردولت فدرالي تمام ميشود.

٥- ضامن تماميت ارضي : درنظام وحداني (Unitary)حتي تصوروفكر اينكارامكان ندارد كه كدام منطقه ازدولت عليحده گي اختيار نمايد به اين طور تماميت ارضي وسالميت كشور نيز محفوظ مي ماند.

مگربرعكس آن درنوع دولت فدرالي هروقت اين خطر موجود ميباشد كه كدام ايالت ياچند ايالتها با هم يكجا شده ازدولت فدرالي خودهاراعليحده سازند وازاين كاربه دولت فدرالي نقصان شديد ميرسد مثال يوگوسلاويا رامي بينيد كه كرويشينا وسلوينيا ازفدرال يوگوسلاويااآزادي خودرا حاصل نمودند وحال بوسينا دركشمكش عليحدگي قراردارد.

٦- ازدياد درجذبه حب الوطني : درنظام وحداني جذبه حب الوطني (ميهن پرستي) فروغ حاصل مي نمايد بخاطر يكه درآنجا يك حكومت حاكم ميباشد ومردم به آن وفا دار بوده وتابع آن ميباشند.

مگردرنظام فدرالي وفاداري وتابعيت مردم بنابه موجوديت دونوع حكومات منقسم ميشود اگر جذبات وفاداري منطقوي شدت اختيارنموده اين نيز به ضرر ونقصان شديد دولت فدرالي تمام ميشود.

۷- سيستم سريع حكومتي : يك كشور داراي نظام وحداني درحالات جنگ واضطرارميتواند از نهايت سرعت كار بگيرد وكوشش ميكند كه درمعامله برنده شود.

مگر درنظام فدرالي حكومت مركزي بايد موافقه حكومات ايالتي رانيز درموارد حاصل نمايد وبهمين لحاظ درفيصله تاخير صورت ميگيرد ودر نتيجه نقصان بزرگ به دولت فدرالي ميرسد.

۸- ساده گي درسيستم حكومت : خوبي ديگر نظام وحداني اينست كه بسيار ساده وعام فهم است هرخاص وعام به آساني اينرافهميده ميتواند كه طريق كارحكومت چيست.

مگربرعكس نظام فدرالي عام فهم نيست به وجه موجوديت دوحكومات درآن پيچيدگي هاي پيداميشوند كه حتي طبقه تحصيل كرده آنرانميدانندكه حكومات چه ميكنند؟

براي كاميابي نظام فدرالي دانستن اين نظام ضروري است وبراي دانستن اين نظام بايد به پيمانه وسيع علميت داشت اين چيزيست كه توقع آن رانميتوان ازهركس كرد.

درنظام فدرالي يك نقص اساسي ديگر نيز موجود ميباشد وآن تدوين نمودن قانون اساسي واختيارات را به دوحصه تقسيم نمودن است كه واقعاً يك كار مشكل ميباشد ونيز تقسيم اختيارات براي هردور وزمان مكمل ومناسب نميباشد مثلاً صدسال پيش زراعت يك مسئله ايالتي فكر ميشد ولي امروز به سطح ملي اهميت ان مسلم است به همين طور ودهها مسايل ديگري كه يك وقت اهميت محلي ومنطقوي راداشتند امروز اهميت آنهابلند گرديده وبه سطح ملي مطرح ميشوند.

######## ادامه دارد

عهدشكني اداره ائتلافي بخاطرچيست؟!

عبدالرحمن عديل

آنگاه كه هنوزچهره اصلي اداره چپان حكومت كابل به صورت حقيقي آن افشانگرديده بود، پايان دوره دوماهه رئيس شوراي جهادي ومثل دولت بخاطراينكه نتوانسته بودكاري به نفع ملت، كشوروتشكيل حكومت اسلامي انجام بدهد، مايه خوشي محسوب ميگرديد، زيراكه ملت باخوشباوري انتظارداشت باآمدن زعامت جديدكه به اساس معاهده پشاور مدت چارماه براي حاكميتش تعيين شده بود، اوضاع رويه بهبودگذاشته وواقعاً به تاسي ازآرمان هاي ملت مسلمان ومجاهد كه بخاطرپيروزي جهاد وتشكيل حكومت سوچه اسلامي بيش ازيك ونيم مليون شهيد وهزاران معلول تـقديم داشته اندحكومت اسلامي تاسيس گرديده ودست جنايت كاران خلق وپرچم ازسرنوشت كشوروملت رنجديدهٔ ما قطع ميگردد. مگرمتأسفانه كه اين چنين نشدوحتي ادارهٔ ائتلافي خلاف توقع به هيچ يك ازتعهدات خودكه بامجاهدين خواهان حكومت اسلامي بسته بود وفانكردوازين تعهدات منحيث پردهٔ تزويرجهت فريب تمام اقشارملت كارگرفت .

اگربه گذشته هاي، گروه مجاهدين شامل ادارهٔ ائتلافي نظرافگنيم باوجوديك سلسله نارسائي هايي ازقبيل اوبند باروس ها، ارتباط ازچندين ماه به اينطرف باحكومت نجيب و...بنابراينكه يك عده اشخاص مسلمان ومتعهد درصف آنهاوجود دارد، اين سوال رامطرح مي سازدكه آنهاچرابه اين ذلت تن دادندتاآنجاكه عده بي ازافراد صاحب اعتماد دربين مجاهدين نيزبه چشم پوشي پرداخته ودرواورنه جلوه دادن حقايق جانب ادارهٔ ائتلافي راگرفتند ؟ درحاليكه اين رابه خوبي ميدانندكه جناح شامل ائتلاف كه ته مانده هاي رژيم نجيب اند، همان هايي اندكه چارده سال تمام درحق ملت بيچاره ومظلوم ماجنايت كردند، روس ها بدعوت همين هابه كشورمالشكركشي نموده وبه شركت آنهابيش ازيك ونيم مليون فرزندان مظلوم كشورمارابه جرم مسلمان بودن شهيدنمودند وهزاران ديگررامجروح ومعلول وتمامي كشوررابه ويرانه بي مبدل ساختندوهمچنان به خاطراثبات غلامي واظهار خوشخدمتي به بادارن روسي خود تمام سرمايه هاي ملي كشورراپلاقيد وشرط دراختيارآن هاگذاشته وخودچون غلامان حلقه بگوش درخدمت آنهاقرارگرفتند.

بااين حال عجيب نيست !!

آنهايكه تحت نام تحريكي هاي اصيل به نصيحت ديگران پرداخته وكوچكترين انحراف ديگران رابه باداتنقاد مي گرفتند ، امروزخودبه هواداري ائتلافيون چيزهاي ميگويند وعمل مي كنند كه تمام قرباني هاي ملت مجاهد وشهيدپرور مارازيرسوال مي برد .

شايسته آن بودكه هواداران ادارهٔ ائتلافي،عضواصلي شامل درائتلاف راكه درجهاد چارده ساله سهمي داشته است متوجه عواقب عمل كردهايشان مي نمودند ونمي گذاشتند كه نيروهاي دست داشته مجاهدين درنتيجه رقابت هاي ذات البيني ضعيف شوندوازبين بروند ونيروهاي باقي مانده ازرژيم كه بدون شك مترصدفرصت اند، به اهداف شوم خودنايل آيند. چنانچه كه فعلاً بقاياي رژيم درسلسله تلاش هايش به خاطربرتري نظامي، سمت شمال راهدف فعاليت هاي خويش قرارداده وبعض مواضع مجاهدين رادرسه ولايت مزارشريف ، جوزجان وفارياب تصرف وبعض قومندانان ولايات شمالي كشوررا دربرابر پرداخت پول وامكانات نظامي حليف خودساخته اند . وضمناً درعرصه سياسي نيزدرتلاش كسب حيثيت ازدست رفته خويش شده . دربهلوي آنكه اكثريت تام پست هاي حساس و كليدي ملكي ونظامي رادركابل دراختياردارند، بااستفاده ازضعف اداره چپان ظاهري حكومت كه توانائي وصلاحيت تقرروبرطرفي يك مستخدم راهم ندارند، درصدد برآمده اند يك تعداد پست هاي حساس ومهم ديگري رانيز كه قبلاً ازدست داده بودند پس بگيرند .

ضعف دولتمردان به ظاهرحاكم بركابل به حدي است كه نتوانسته افراد محدود تنظيم خودرادرپست هاي دولتي بگنجاند، عده ايكه دركابل حضوردارند باكاملاً بيكاراندوهرروزه به دفتررياست جمهوري تجمع مي نمايند وياهم بدون بست وچوكي دروزارت خانه هامعرفي شده اندكه به اصطلاح هيچ كاره اند. البته عدهٔ كثيري هم درپشاور بسرمي برند وبخاطرعدم اطمينان ازاوضاع داخل زحمت هجرت رابخود گوارا نموده وبايك عالم مشكلات بخاطرحفظ آبروعزت خويش دورازميهن حيات بسرمي كنند .

حقيقت امراين است كه متاسفانه اكثراعضاي ادارهٔ ائتلافي كه درلباس مجاهد باائتلافيون پيوسته اند، ازنهايت جبن وبزدلي به چاپلوسي جنرالان رژيم سابقه پرداخته وبه مشابه وكيل مدافع آنها دربرابر سنگرداران مجاهد، درسخنان ومصاحبه هاي خويش براي دلجوئي وجلب توجه والتفات آنهاحرف هايي را اظهارميدارندكه واقعاً مايه تعجب است . آنهاحتي ازعكس العمل ملت دربرابر اظهارات گذشته شان كه بخاطر خوشنودي بقاياي رژيم اظهارنموده بودند عبرت نگرفته اندوهنوزهم درمصاحبه هاي شان بارادبوي استكباربه اظهارسخناني مي پردازند كه كاملاً به ميل دشمنان جهاد اسلامي بوده واميد هاي ملت مارابه ياس مبدل مي سازد. درهمين سلسله اخيراً آقاي نصرالله منصوريكي ازهواداران واعضاي ادارهٔ ائتلافي كه قبلاً دوستم راباخالدبن وليد تشبيه نموده بود، اين بارمليشه هاوقوت هاي باقي مانده ازرژيم گذشته رابامجاهدين حزب اسلامي كه روي احساسات پاك بخاطرتشكيل يك حكومت سوچه اسلامي ازسال هابه اينطرف عليه قواي سرخ ونوكران حلقه بگوش شان جنگيده اند، دريك پله قرارداده وخروج مليشه هاراازكابل باعقب نشيني نيروهاي حزب اسلامي ازمضافات كابل وحتي ولايات لوگر، ميدان وورد گ مربوط دانست وبي شرمانه اين موضوع راجزفيصله هيئت صلح تنگرهارواغودكرد .

اين آقاكه ازوابستگي اش به يكي ازكشورهاي همسايه همه آگاهي دارند، ازطي چندين سال به اين سوتحت فرمان هواي نفس وخوشخدمتي به باداران خويش تيشه به ريشهٔ وحدت وهمبستگي مجاهدين زده وبخاطرحصول منافع چندمادي اجيردست هاي بيگانه شده است كه تغيرعباوقباوتبليغات به نفع بادارش چهره حقيقي وي راازبسيارقبل براي ملت ماآشكارساخته بود .

اين چگونه ممكن است كه پس ازين همه انتظاروتحمل مشقات درحاليكه قوت هاي نظامي باقي مانده ازرژيم نجيب خلع سلاح نشده وكمونستان ازپست هاي حساس ملكي و نظامي رانده و خلع قدرت نگرديده اند، فوج اسلامي كه طرف قبول همه تنظيم هاباشد ترتيب نشده وحكومت اسلامي منتخب تشكيل نگرديده است، تمام نيروهاي ديگردرمضافات كابل وجود دارند وطرف ديگرمنازعه يعني نيروهاي شوراي نظاردركابل حضورداشته باشند .

ولي نيروهاي حزب اسلامي سنگرهاي خودراترك بگويند . ثانياً چه تحولي مثبتي درساختار حكومت رخ داده كه حزب اسلامي از همه تقاضاهاي مشروع وحقه خودبگذرد ويكسره ميدان رابه ائتلافيون تخليه

ص (۷)

تولوونكي : رحماني

- دغوره خيزپيداكول ښه والي نه دي بلكي هغه په غوره طريقه استعمالول ښه كاردي . (جانسن)

- عقل لرونكي هغه څوك دي چي بوازي له خداي (ج) سره مينه ولري . (خليل جبران)

- هره ورځ خپل مخ په هنداره كي وگوره ، كه بدشكله يي نويدكارمه كوه ، چي بدي نوري هم جمع نشي اوكه ښه قواره ولري نوهغه په بدكاركولومه خرابوه

(افلاطون)

عوام په ظاهري اصلاح پسي گرځي، خوته دباطني اصلاح فكروكره

عوام دبني دنياپه جوړولوكي غرق دي، خوته داخرت دښايسته كولو هڅه وكره

عوام دنوروعيب پلټي، خوته دخپل محبوب په لټه كي شه

عوام دمخلوق درضااوخوشحالي په لټه كي دي ، خوته دخالق درضااوخوښي په لټه كي اوسه

ډيره ژاړه اوخندامه كوه ، ډيرخوښ اوسه خوډيري خبري مه كوه .

= ډيرخيرات كوه اوكم خوره ، ډير ويښ اوسه كم خوب كوه .

- دري ډلي به نجات پيدانه كړي : بخيل، غافل اوناامېده

- څلوورواشخاصو ته خالي لاس مه ورځه ، اولاد، ناروغ ، فقيراوپادشاه

دمورخدمت

حضرت بايزيدبسطامي فرمايي : ماته چي داځه مرتبه حاصله ده داټول زمادمورداطاعت له بركته ده ، هغه وايي، يوځل زمامورډشپي په نيمايي كي اوبه وغوښتي، خواتفاقاً په كوركي هيڅ اوبه نه وي،

نوماكوزه واخسته اوله ويالي نه مي اوبه راوړي خوچي كورته راورسيدم، مورمي بيرته ويده شويوه ، خوزه توله شپه پداسي حال كي چي اوبه مي په لاس كي وي بيداروولاړوم ان چي دسختي يخني په وجه اوبه په جام كي يخ ووهلي، چي كله مي مور ويښه شوه اوماورته اوبه وړاند ي كړي ، نوهغه وفرمايل تابه اوبه ايښودلي ددومره زيات ودريدوڅه ضرورت و، ماعرض وكر زه بوازي له دي ويري ولاړياتي شوم چي كله ته له خوبه راپاڅي اواوبه وغواړي ، اوبه به نه وي اوته به په تكليف شي ، هغي چي داواوريدل نوزياتي دعاوي يي راته وكړي .

دقرآن عظيم الشان په هكله معلومات

- ټول قرآنكريم په ۲۳ كالوښوكښمياشتواو۱٤ ورځوكي نازل شويدي .

- په قرآنكريم كي بولك پنځه زوه شپېرسوه څلورانيانقطي دي ، ۵۵۸ ركوع، ٦٦٦٦ آيتونه ، ۱۱٤ سورتونه ، اوه منزلونه ، ۱٤ دسجدي آيتونه او۳۰ پاري دي .

ملغلري

- په قرآنكريم كي د۲۵ نبيانو (ع) ذكرشويدي اودشپږوپيغمبرانوپه مباركونومونوياندي سورتونه نومول شوي (سوره يونس ، سوره ابراهيم ، سوره يوسف، سوره محمد، سوره نوح اوسوره هود) .

- په قرآن مجيدكي دالله لفظ ۲٦۹۸ ځله ، درحمن لفظ ۵۷ ځله اودرحيم لفظ ۱۱٤ ځله راغلي دي

- په قرآنكريم كي اوه سوه ځايه په لمونځ كولوتاكيدشوي او۱۵۰ ځايه په خيرات وركولو .

- دقرآنكريم ترټولولوي سورت (البقره) اوترټولوكوچني سورت (الكوثر) اوترټولولوي آيت (آيت الكرسي) دي ، دغه آيت ته دآيتونوسردارهم ويل كيږي .

- په قرآنكريم كي څلورځايه " سكته " او " ۸٦" ځايه وقف لازم راغلي دي .

- په قرآن شريف كي دطواسين سورتونه يعني هغه چي په طس پيل كيږي دري دي (سوره النحل) سوره القصص ، اوسوره الشعراء) اوحواميم سورتونه يعني هغه چي په (حم) شروع كيږي اوه دي .

- حضرت مريم يوازيني ښځه ده چي نوم يي په قرآن كريم كي ذكرشوي اوپه نامه يي سورة نومول شويدي .

- حضرت زيدبن حارث (رض) هغه نيك بخته صحابي دي چي په قرآنكريم كي يي ذكرراغلي دي .

- سوره توبه (سوره برأت) په بسم الله نه ده شروع شوي پداسي حال كي چي په سوره النحل كي دوه ځله بسم الله ذكرشويده .

- په قرآن كريم كي دڅلوروجوماتونو نومونه ذكرشوي (مسجد الحرام ، مسجد اقصي، مسجدضرار، مسجد قبا) .

حاضرځوابي :

دميرزاغالب اومولاناغلام امام شهيد ترمنځ ډيره ظريفانه شوخي كيده ، يوه ورځ ميرزاغالب په ډيرظريفانه ډول له امام شهيدنه پوښتنه وكړه ، محترمه ووايه چي له څه وخت نه شهيدشوي يي ؟ غلام امام شهيد ځواب وركړكله چي كافرغالب شول .

* * *

گاندي اومولاناجوهريه يوه غونډه كي شريك و، يوه ورځ دواړه دسبل لپاره ووتل په لاره كي يوځاو، گاندي هغه ته ووركتل اوويي ويل : داغادشيواجي په نامه يادېږي اوبه دي اويوكي ماته دهغه څيره ښكاري مولاناصاحب هم هغه ته ووركتل وويل :" ته خوواقعاً سم وايي دشيواجي څيره خوماته هم ښكاره شوه خوته لږيه غورروگوره چي دهغه دسرسره ماته دعالمگيرڅيري څپلي هم په نظرراځي ، آياتاهغه ونه ليده

دميووگټي :

شفتالو : په شفتالوكي ويتامين A، B او C موجوددي، اودويني دپاكوالي لپاره ډيره گټه لري، همداراز دشفتالوځوښادويني دكموالي ، لوړفشاراوسينه بندي لپاره ډيره مفيده ده .

كيله : كيله په هغوميوه كي شميرل كيږي چي دچاغواوڼگرودوارو خلكولپاره گټوري وي، كه چيري تاسي چاغ نه وي نوپه ورځ كي دوي كيلي وخوري، كيله دوزن دزياتوالي سبب كيږي نه اوږبي ته دخوړوالي خوندهم وركوي .

* * *

سنتره : ستاسي وجود ته مطلوب ويتامين وركوي اوبېنه موصافوي، همدارازپوستكي موله وچوالي ساتي، دسنتري له خوراك ورروسته دهغه پټوكي مه غورځوي، بلكي هغه واخلي په لاسونيي ومورېي اوبيابي په بخواوبوپري مينځي ، دسنتري پټوكي ستاسي لاسونه نرم ساتي .

مڼه : دانساني صحت اوتواڼمندي لپاره ډيره ضروري ده ، په مڼه كي موجوده اوسپنه دويني دسروكرويا تودزياتوالي سبب كيږي چي دهغرله امله دويني رنگ سوروگرځي دمڼي په هكله څيني پوهان داسي نظرلري : كه چيري يوڅوك په ورځ كي يوه مڼه وخوري نو ډاكتريه يي كورته رانه شي يعني ناروغ به نشي .

غنيمت وبوله

له بروانوب نه مخكي ځواني
له ناروغي نه مخكي صحت
له فقيري نه مخكي دولت
له مصروفيت نه مخكي فراغت
له مرگ نه مخكي ژوند

مه يي وايه :

بي تحقيقه خبره
دخودغرض په وړاندي خپل مصيبت
دحاسد په وړاندي عايد
دهرچاپه وړاندي دبي حيايي كيسي
دكمزوري په وړاندي دهغه كمزوري
دميرمني په وړاندي دپردي ښځي صفت
پخپله ژبه خپل صفت

ماتي به وخوري

په علم اوهنركي له استاده
په ژبه چلولوكي له ښځي نه
په بحث كي له جاهل نه
په جگړه كي له خپلي ميرمني نه

لطيفي

دوي ښځي په كوركي ناستي وي يوي بلي ته دخپل عمرپه هكله كيسه كوله .

يوي ويل زماعمر۲۲ كاله دي، دويمي ويل هوزماعمر۲۰ كاله دي، په همدي وخت كي ددويمي ښځي لمسي راغي وي ويل انا ، انازه له تاسودواړو نه مشريم زماعمر۲۵ كاله دي .

* * *

يوهلك له خپل پلارسره دهغه ددوست جنازي ته لاړ، سړي دجنازي ترڅنگ ودريدويي ويل: اي دوسته ته به داسي ځاي ته ځي چي هلته نه خواړه شته اونه اوبه ، نه ميزشته اونه چوكي نه ديگ شته نه بستره ... زوي يي داواوريده په معصومانه لهجه يي ويل پلارجانه نودامړي زموږكره ځي .

* * *

يوسړي دتلويزيون دټكس مامورته وويل، زه دتلويزيون ټكس نيمايي اداكوم ، هغه ورته وويل ولي، سړي ځواب وركړځكه چي زه تلويزيون په يوه سترگه گورم .

شعروادب در پرتو انقلاب اسلامی

نداي مادر وطن

سحرمهجور

توراهرگزنمي بخشم
بحيث مادرميهن توراادرسينه پروردم
تورامن شيرهٔ جان دادم وفرزانه پروردم
ولي تواختيارم رابدست ملحدان دادي
زمام ملك وميهن رابدست دشمنان دادي
نمي بخشم توراای پرچمي ای ملحدملعون
زتوشدصدهزاران پيروبرنابي گنه درخون
نباشدِ خلقيان ازحلقهٔ آن خائنان بيرون
ستم باشعله وماويست هايش جملگي مغبون
نبخشم من كساني راكه بهرقدرت وشهرت
گذشتندازاساسات جهادوعزت وحرمت
بدشمن ساختند ودوستان رامانده درحيرت
بيفزودند براي خود ازآن سرمايه وثروت
خدارابس كنيد اين خودكشي وخودسري هارا
بهم سازيد ودريابيدعلاج واپسي هارا
بهم يكجاشويد ودفع سازيد دشمني هارا
بدامانم مريزانيدخون بي گناهان را

دوينو ارمان

فضل هادي

زړه مي په وينوكي لمبيږي بوارمان دي زما
گردهدفونه پوره كيږي پري گومان دي زما
داسارت ځنځيرمي مات كړ غلامي نه منم
داتعهد اوهم غيرت اوداايمان دي زما
چي شهيدان مي استقبال كړل دآسمان پرښتو
اوس چي قرآن نه نافذيږي پري خفگان دي زما
داسره فوځونه چي په ويرشول عقيدت راسخ ؤ
كه امريكاته سرتيټ شم پري تاوان دي زما
داوښتون غيرمي كړپورته دنړي محكوم ته
شومه امام دمظلومانولوړ آذان دي زما
ماچي سينه وه سپرنيولي ددښمن مرمي ته
اسلام مي غوښته چوكيٍ نه وه دابيان دي زما
ښه ښكلي ښ موكنډواله كړدوحشت زامنو
نن پاتي شوني بي يكي گرځي ژوندون گران دي زما
په هره بيه به سوداكړم آزادي ترلاسه
مخكي قايد دشهيدانودكاروان دي زما

حمد

ابراهيم "منقاد"

په نامه دهغه خداي (ج) مي داتمهيددي
چي يونوم ئي په تومونوكي مجيددي
مثل سيال ورسره نشته په خدايي كي
په هرڅه باندي قادرپه ذات وحيددي
تري معدوم ندي هيڅ ځيزپه هيڅ مكان كي
په هرڅه باندي خبيرقديم جديددي
مخلوقات ئي پيداكړي بي پايانه
آشكاره ئي له خلقت څخه توحيددي
باكماله شين آسمان چي نه ئي ويني
دريدلي داپه حكم دحميددي
شمس قمرته نظركړه حكمت ئي گوره
پيداكړي يكي خداي (ج) سبب ددیددي
روح جسد سره ئي هسي وصل كړي
چي عاجزئي له ادراك پيراومريددي
كه شي ټول اشجارقلم دوات بحرونه
ناممكن پري ټول صفت درب رشيددي
مخلوقات بي ټول ثناپه غور
انس وجردي كه حجراوكه حديددي
له احكامونه بيرون دالله (ج) مه شه
په بطشه دسركشانوكي شديددي
تل تكيه په غني خداي (ج) كوه منقاده ،
بي لاري كه په بل لوردرومي ترديددي

راز

ملنگيار

دبلبل زړه له چغاره
تل دپاكي ميني لاره
چي څه وايي هغه زه كړم
نورغمونه په واته كړم
خوب مي نشته ترسهاره
ځارم ناست يمه بيداره

دخليل دميني كورته
توره شپه سپاكومه
دسباله انتظاره
عشق ورزشي الوته كړم
نورغمونه په واته كړم
دژوندساه ورم هغي لورته
روح اوزړه مشغولومه
خوب مي نشته ترسهاره

دسيني دسرانوارمي
ورسره يم مشغوليږم
ددي پټ رازله اظهاره
داراغلي شپه اوده كړم
نورغمونه په واته كړم
خوږبان لري له بادمي
په ښه راز اونازاوسيږم
خوب مي نشته ترسهاره

دخفي دحال دستوره
ستادبادله هره دمه
خوږي وايمه له پاره
ددوستي په رسم تله كړم
نورغمونه په واته كړم
دهرمردژوند سروره
ستادوركړي له كرمه
خوب مي نشته ترسهاره

داخفاله عظيم رازه
كله خاندم كله ژاړم
سپين ځليږم له انواره
ملنگياريم رسواخوله كړم
نورغمونه په واته كړم
دامين خصلت له نازه
له هستيه رضاغواړم
خوب مي نشته ترسهاره

حكمتيارته سلام

الف - ص - ابوشبير

ښاغلي قهرمانه ستاعظمت ته مي سلام
تدبيراوتفكراوستاحكمت ته مي سلام
ښه پوهه اولياقت دامارت چي درسره دي
دارنگه آمريت اواهليت ته مي سلام
ستانوم چي كله واوري دنړي ټول دهريان
دويري په لرزه شي دي هيبت ته مي سلام
اوله اودآخره انقلاب چي پرمخ درومي
داستادهلوځلوكرامت ته مي سلام
فاتحه دختيځ كاميابي دي مبارك شه
محشرپه گلم جمه ستاهويت ته مي سلام
په نوم چي مجاهدودكافرودلاس ښكارشول
سازش سره ستا دارنگه ضديت ته مي سلام
وعده باندي وفانكړي داځرنگه انسان دي
بياهم ستاحوصلي اوشجاعت ته مي سلام
هميش چي په ملت ، دين اوهيواد باندي جنگيږي
زروا ره آفرين شه ستاقوت ته مي سلام
مين چي په خپل ځان اوپه نژاد اوپه لسان وي
هغه به څه انسان وي ستاوحدت ته مي سلام
ژوندون داسارت چي دچوكي لپاره ئي خپل كړ
ورك دغه ناكسان شه ستاحريت ته مي سلام

دپيوستون په وياړ

محمدرحيم "رحيمي"

مراوي مي دزړه گلان اوس په غوړيدوښكاري
صف دمبارزورونوبياپه يوكيدو ښكاري
دادي حقيقت اصل، خپل ځاي ته رجوع كوي
تيت پرك صفونه مونن په ټوليدوښكاري
انشا الله راټول به شي ټول ښه خپه وررونه
هغه لومړني هستي بياپه جوړيدوښكاري
ټول افغانستان كي به لوي قوت راجوړشي زر
دغه دمومن قوت ښه په لوړيدوښكاري
لاړلوورسواشولوهغه دښكيلاك زامن
ويه خوري آخرگوزارنوريه ختميدوښكاري
خرڅه بي چي وينه كړه چادشهيدانونن
داخاين رسواشولوداپه وركيدوښكاري
وايي "رحيمي" درته گټه ده يووالي كي
واړه دنفاق كشتي زرپه ډوبيدوښكاري

زماهوډ

غلام حضرت شاكر

ځودحيادرژيدوعاملان ونه شرم
په ماحرام دي دآرام بسترخوازه خوبونه
دغه احساس مي داخلاص په خم كي ورنگاوو
له ستراڼين ته مي رنگين شو دادننگ خيالونه
ددغه هودنيلي مي ځغلي دمنزل ترپولو
دايمانيت په متره اخلي دومره ستركامونه
زمونږدتقدس مخ ته بي توري برغي وباشلي
خاين مرَبي موپه خوځښت واچول تورخاپونه
دواك هوس بي داحساس خولگي ته لاس ونيوي
په غتوغتوبي منسوخ كړل پروني لوزونه
لايي تك تك دي ټكوي بي خدازده څه جوروي
دواك هوكلي كي گډوي خوازه ترخه ځيزونه
داوسټون دښكلاتاوي نه بي پت ؤ لوټه
پرتقدس بي حواله كړل دبيغور داغونه
په يودرډنگ مودښمنانوته ورغاړيوتي
دنسيان غيږي ته بي وسپارل زاړه وختونه
نويي په غدردامعتادلاسونه ټينگ نيسمه
شاكرپه بياراخپلوم داوښتون وياړونه
ځوغداريت مي له هيواد څخه بشلي نه وي
په ماحرام دي دآرام بسترخوازه خوبونه

بي عمله بنده گي

محمدعارف "رحيمي"

هربنده چي بي عمل شي
دمخلوق دخولومتل شي
څوك ئي نه پريږدي په كوركي
دي دخداي دقانون غل شي
كفايت له لاسه وركړي
هسي خوشي لوي بوتل شي
دپردودخولي گوياوي
بدخصلته لوي اجل شي
حافظه ئي شي كمزوري
دروغجن هسي پاگل شي
دقرآن احكام تري هيروي
دشيطان دخولي عسل شي
حق باطل يوورته ښكاريږي
دباطلوسره مل شي
په خوله حق ويلاي نشي
ځان ئي خپل خوله ئي دبل شي
ښي ئي حق سنگرته نه ځي
هم په لاسوباندي شل شي
رحيمي ورته بيان كړي
كه ئي ملگري مكمل شي

سخن چند پيرامون نويسندگي

(اقتباس ازانشا ، نامه نگاري)
عبدالمعبود "سراج"

شايسته است كه درابتداي سخن ، شمه اي ازگفتار ونوشتار ازاساتيدفن رادراين باره باختصاربرسبيل مقدمه دراينجابياوريم تاخوانندگان بطرزنگارش وروش انديشه آنان اندك آشنايي داشته باشند .

احمدنظامي عروضي سمرقندي درچهارمقاله خود، نويسندگي راچنين تعريف ميكند :

«نويسندگي صناعتي است مشتمل برقياسات خطابي وبلاغتي منتفع درمخاطباتي كه درميان مردم است برسبيل محاورت ومشاورت ومخاصمت درمدح وذم ، حيله واستعطاف واغراء وبزرگ گردانيدن اعمال وخرد گردانيدن اشغال وساختن عذروعتاب واحكام وثائق واذكارسوابق وظاهرگردانيدن ترتيب درهرواقعه تابروجه اولي واخري اداكرده آيد » .

پس نويسنده بايدكه كريم الاصل، شريف العرض، دقيق النظر، عميق الفكرو ثابت الراي باشد، وازادب وثمرات آن قسم اكبروحظ اوفرنصيب اورسيده باشد، وازقياسات منطقي بعيدوبيگانه نباشدومراتب ابناي زمانه شناسد، ومقاديراهل روزگار داند، وبحطام دنياوي ومزخرفات آن مشغول نباشد، وبتحسين وتقبيح اصحاب اغراض التفات نكند، وغره نشود ودراثناي كتابت ومساق ترسل برارباب حرمت واصحاب حشمت نستيزد، واگرچه ميان مخدوم ومخاطب اومخاصمت باشد اوقلم نگهدارد وعرض او وقعيت نكندالابدانكه تجاوزحدكرده باشد وقدم حرمت ازدايره حشمت بيرون نهاده كه " واحدة بواحدة والبادي اظلم " ودرعنوانات طريق وسط نگهدارد. وبهركس آن نويسدكه اصل ونسب وملك وولايت ولشكرو خزينه اوبران دليل باشد، الابكسي كه درين باره مضايقتي كرده باشدوتكبري نموده وخرده اي فروگذاشته، وانبساطي فزوده ، كه خردآن راموافق مكاتبت نشمردوملايم مراسلت نداند.

درين موضع نويسنده رادستوري است واجازت كه قلم برداردوقدم درگذارد ، ودرين ممرباقصاي غايت ومنتهاي نهايت رسدزيرا" التكبرمع المتكبرصدقة " والبته نگذارد كه هيچ غباري درفضاء مكاتيب ازهواء مراسلت بردامن حرمت مخدوم اونشيند .

ودرسياقت سخن بايدآن طريق گيردكه الفاظ متابع معاني آيدوسخن كوتاه گرددكه فصحاي عرب گفته اند" خيرالكلام ماقل ودل" زيراكه هرگاه معاني متابع الفاظ افتدسخن درازشود وكاتب رامكثارخوانند و" المكثارمهذار" . اماسخن نويسنده بدين درجه نرسدتاازهرعلم بهره اي برندارد، وازهراستاد نكته يادنگيرد وازهرحكيم لطيفه نشنود وازهراديب طرفه اقتباس نكند .

استادسميعي گفتاردرصفت نويسنده ونويسنده گي داردكه بي مناسب نيست رشته كلام رابااين صاحب سخن كه بنوبه خوديلي است درميدان سخن ودبيريست آزموده دركارزار وعرضه نگارش بسپاريم .

نويسنده بايد پيش ازهمه كاروبيش ازهمه چيزسعي كندكه داراي ملكات فاضله وخداوند اخلاق ستوده گردد ، جمال صورت رابه كمال معني آراسته كند، وجامهٔ تقوي وپرهيزگاري برتن راست نمايد، واندام اعتباربه زيوردرستي وامانت بيارايد، وگفتارخودرابارراستي وحقيقت بياميزدوبه فصاحت منطق وصراحت لهجه زيوربخشد وزبان وقلم ازناشايست پاك دارد ودرنگهداشت رازهاكوشش فراوان بكاربرد، واعتماد همگاني راسوي خود جلب نمايدوعنان قلم ازآنچه برخلاف حقيقت است بازگيرد، وكسي رابدانچه دراونيست نستايد ، وازتملق وچاپلوسي كه كشنده روح ادب است بگريزد .

نويسنده چون بدين صفتهاوزيورهاآراسته باشد هرآئينه قدروبهاي اونزد مردم بزرگ شود، وجايگاه اودرجامعه بلندگردد، وسخن اودرگوشهاودلهاتأثيرهرچه بيشتربخشد.

وبايد دانست كه نويسنده گي راشرايطي چند است كه تاآن شرائط دروجود دبيرونگارنده جمع نشودنام دبيري بروي صدق نكند واينك ازآن شرائط نام ميبريم .

١- نويسنده چون ميخواهد نامه اي بنويسدبايدآنرا باخرمي وتازگي آغازكندوبامتانت واستواري بپايان رساند، ودبيرهرمند آن است كه درسخن خوشي حسن مطلع ومقطع رانيك رعايت كند، درآغاز سخن نيكو رود وازانجام آن نيكوبيرون آيد .

٢ - نويسنده بايد كه هرچه نويسد بانشاط روح وفراغ خاطرنويسدوازاندوه خستگي دورباشد كه ازخاطرپريشان سخن خوش برنخيزدوازخيال آشفته فكرآراسته بيرون نيايد .

پس اگرطبع رابراي انشا ، معاني تازه حاضرنبيندوفكررابراي دريافت مضامين لطيف آماده نداند همان به كه درحال قلم برزمين گذارد، ودرآنچه خواهد نبشتن فرصت وانصرافي روادارد وخودرابه رنج وتكلف نيفگند ، وآن نگارش راكه دردست دارد بوقت مناسب تري عملي كند، كه كلام تكلف آميزذوق شنونده رابكوبدوبر طبع خوانندگان ناهموار افتدوالبته تاثيرناروا درقبال دارد .

٣- نويسنده بايد درموضوعي كه ميخواهد نگاشت نيك بينديشدوجوانب وحواشي آن رابدقت هرچه بيشتر درنظربگيرد وپشت وروي مقصود راباديده تحقيق وبازجوئي نيكوبنگردوزشت وزيباي سخن خويش را درترازوي فكروتأ مل با مقياس قواعد ادبي بسنجد وآنراكه انگيزنده طبع وپسنديده عقل باشد وبا مقصود وموقع مناسب افتدبرگزيند وهرسخن رادرجاي خودبگذارد، وهرنكته رادرمقام خود بپردازد .

٤- نويسنده بايد كه سخن باقتضاي حال بگويد ، واندازه فهم مخاطب وذوق شنونده رادرست دردست داشته باشد، وهرچه مينويسددرخورحال واستعداد اونويسد ، كه اگرجزاين كندكلام خويش مهمل وبيهوده گذاشته است .

٥- نويسنده بايد كه ارتباط وپيوستگي معاني ومضامين نامه رابايكديگر هرچه بيشترمورد توجه قراردهدودربيرون شدن ازيك معني ودرآمدن به معني ديگررشته سخن ازدست نگذارد ،وازفرورفتگي ودرآميختگي مضامين بيكديگرسخت بپرهيزد، كه چون چنين نباشدزمام سخن ازدست وي برون رود ودرهم افتادن معاني گوناگون رشته نظم وارتباط راازهم بگسلد، وپاره هاي نامناسب درآن جاي گيرد، وجمله هاي زايد وبيهوده بميان آيدكه وجاهت سخن ومتانت بيان رازبان بزرگ رساند،وكلام را ازشأن وقدرخود بيندازد وپايه نويسنده را درنظرخواننده گان وشنوندگان پست كند.

٦- نويسنده بايدسعي كندتاازآوردن الفاظ كه بسبب فزوني استعمال كهنه وفرسوده شده است بپرهيزداماابنرانيزبداندكه پرهيز ازالفاظ كثيرالاستعمال مستلزم آوردن الفاظ غريب ونامانوس نخواهد بود، كه اين خود چنانكه قبلا گفتيم عيبي بزرگ وخطاي فاحش است ، بلكه نويسنده توانا وزبردست ميتواند همان الفاظ مبتذل رادرميان سخنهابروجهي جاي دهدوباتركيبي اداغايدكه شنونده آن راچون كلمات تازه وبديع ، تلقي كندوازشنيدن آن لذت وتمتع برد.

٧- نويسنده بايد سعي كند دركلام خود ازتكلفهاي ناروا وصنعتگريهاي نابجا وتكرارهاي نامناسب دوري جويد، وسخن خودراازكلمات فصيح والفاظ تازه ومانوس وعبارت هاي ساده وروشن آميخته دارد، تاآنچه نويسدبفهم خوانندگان وشنوندگان نزديك باشد، ودرمذاق خواص وعوام گواراافتد، ومعاني آن درخاطرهارسوخ كامل كند، وگرنه سخن مكلفانه گوشهارا بخراشد، وخاطرهارابيازارد وعبارسخن بشكند، وتكراربسيارطبايع راخسته كندو خوانندگان راكسالت وملالت بارآورد .

٨- نويسنده بايد درهرموضوع كه وارد ميشودودرهرمبحث كه سخن آرائي مي كند مناسبات آن موضوع رادرنظربگيرد ومقتضيات آن مبحث رانصب العين خودقراردهد وهرچه مي نگاردددرحدودآن مناسبات ومقتضيات باشد چه ،هرموضوع بياني راشايسته است وهرمقصودبياني ديگررا .

چنانكه هنگام سروروشادي بايد كه سخن دبيرمشتمل برانگيزش حس الفت ومحبت وموانست باشد وبياني كند كه خاطررا ازان نشاط خيزدوروح رابوجدواهتزاز آردوغم واندوه ازدل ببرد .

ونيزدرزمان جنگ ودشمني بايد كلام نويسنده ميتني برتحريص وتشجيع وبرانگيختن عرق مخاصمت ودبرساختن حس مخالفت ومقاومت باشد واحساسات نفس رابه پذيرش خطرهادعوت كند تاعوامل غيرت ودلاوري ورزمجوئي رادرآدمي بجنبش آورد، وبزرگي جنگ وسختي نبردوپيكار را درنظرمردم كوچك وناچيزنمايد، واورابكسب افتخارفتح وپيروزي بردشمن دليروامیدوارسازد. هم چنين است درديگرجايها وديگرحالها كه بايد مقتضيات آن چندآنكه شايد درنظرنويسنده منظورومجسم باشد، وهرچه مي نويسد باقتضاي حال نويسد .

دحزب اسلامي مات شوي وزرګوشيرومونډ

شمس الحق "شمس"

دلرم . دمياشتي په لومړي نيټه دجمعي په ورځ مودپيام آزادي له راډيواوخپرونوروخپري سرچينو څخه دداعيه اتحاد اسلامي دمشر وروروقاضي صاحب محمدامين "وقاد" له خپل پخواني اصلي تنظيم يعني حزب اسلامي سره دپيوستون اعلان واوريد.واقعاً ددغه نيکمرغه اوزړه خوښوونکي اعلان په اوريدلوسره دټولومومنواومتعهدومسلمانانو په زړونوکي دخوښي اوخوشحالي ولولي راپاڅيدلي اودحزب اسلامي په اصوليت ،حقانيت اوواقعاً د خداي (ج) په لاره کي دجنګيدلي مجاهدتنظيم په غوره صفتونوباندي دپوره يقين درلودلو روحيه نوره هم پياوړي وګرځيده .

دقاضي صاحب دپيوستون اعلان ،ننګرهار،بنارکي پداسي حال کي چي دحزب اسلامي امير اوداجرايي شورئ ي ځينو غړو، قاضي صاحب اودهغه داجرائيه شوري غړو اوننګرهار ،لغمان جهادي قوماندانانومجاهدينو دتحريك مشرانو او عالمانو ،ګډون درلود ديوي پرتمينتي غونډي جوړولو په ترڅ کي اعلان شو چي دغونډي دبرخه والو له خوا په هره برخه کي دتکبير په نارو سره بدرګه کيده،دغونډي په لومړي سرکي وروقاضي صاحب محمد امين "وقاد" برخه والو ته دخپلي خوښي اوخوشحالي مراتب څرګندکړل اوزياته يي کړه : " وضع اوشرايط دا ايجابوي چي مسلمانان ټول بايد ، په يوه واحد صف کي سره ودريږي اودفساد په وړاندي متحدانه دريځ خپل کړي ، موږ دسياسي مبارزي اواسلامي جهاد دړونددېري شپي ورځي سره ګډي تيري کړي دي ، خوبوازي د څه مودي لپاره سره بيل شوي وو او... » قاضي صاحب محمدامين "وقاد" دخپلي وينا په يوه برخه کي دحزب اسلامي سره بيله قيداوشرط څخه خپل پيوستون دمومنوهيوادوالو داطمينان اوداډ پيداکولو اودېوه جهادي صف ترقوماندي لاندي دوړځنيو پيښېدونه حل وفصل په خاطر داسي نيکي څرګندوني وکړي . داچي مسلمانان سره ورونه دي ،زه اوحکمتيار هم سره ورونه يو، مومنان کارپه مشوره کوي ،موږبه هم داسي کوو ، دنزاع دپيداکيدو مخنيوي به کوو، داطاعت چاري به پرمخ بيايو ،هيڅ ډول نزاع به زموږ پيوستون مات نشي کړاي ،زموږيه ټولو تعهدونووفاده ، اسلامي حزب زموږټولو حزب دي ، دټول ملت کوردي ، انجنيرصاحب حکمتيار مشردي ، داساسنامي دترتيب اواصلاح کار ددوي صلاحيت دي.

دوروروقاضي صاحب له وينا وروسته چي دبرخه والو په ګرمو احساساتو اوتکبيرنارو سره بدرګه کيده ،ورورحکمتيار په خپل نوبت کي دقاضي صاحب دنيکواوحقيقي څرګندونو ،چي واقعاً داتحاد اوپيوالي روحيه او بوي يي درلود،› د حمداوثنا وروسته خپل نيك احساسات داسي بيان کړل: « زه ورونو ته داډ ورکوم چي زموږترمنځ دايمان اوعقيدي ريښتوني وروولي ده ، قرآن زموږ لارښود دي ، مومنان سره ورونه دي ،کاريي مشوره ده اود اولي الامر څخه پراطاعت مکلف يو حزب اسلامي دټول ملت لپاره مستحکم سنګردي ،افغانستان يوهمداسي قوي حزب ته ارتيا لري چلاموږملي وحدت تامين کړي ،موږ ټول صالح قوتونه سره راټولوو اودا ټول صالح قوتونه زموږورونه دي" دحزب اسلامي مجاهد امير ورور حکمتيار دخپلو خبرو په يوه برخه کي د حزب اسلامي په مبارزوي اوجهادي ليکوکي دوروروقاضي صاحب "وقاد" مخلصانه اوصادقانه هلو ځلو ته داسي اشاره وکړه : «قاضي صاحب يووقت (رح) دحزب اسلامي اميراوبيامرستيال ؤ ، دهغه مقام اومبارزه دحزب په ليکوکي څرګنده ده ، ورونه ورته په درنه سترګه ګوري ، دهغه شخصيت اوحيثيت مني"

حقيقت دادي چي داسلامي تحريك ددغو شهسوارانو دڅرګندونو څخه په ډاګه کيږي چي په پواځي صورت سره به داسلامي تحريك دمبارزي هغه غوښتني اوهيلي ترسره نشي لکه څنګه يي چي ايجاب کيږي د پراخېتوب اوځانځاني په حالت کي به حتمي دښمن ستادهري لحظي څخه ګټه اوچتوي اودمسلمانانو دليکود کمزوري کولو لاري چاري به سمبالوي . عظيم الشان خداي (ج) هم خپلومومنانو ته پدي برخه کي ارشادفرمايي : « ... اومه ټيت پرك کيږي » زموږيه وران ويجاړ هيوادکي خوله بل هروخت څخه نن ددي خبري ضرورت زيات محسوسيږي چي مسلمانان بايد په يوه واحد صف کي ځانونه راټول کړي ،متحدانه ژوند اختيارکړي ، دښمن موږيوه لحظه هم په ارام ناست ندي، چي څرګندي نمونې يي نن ټول هيواد والو په خپلو سترګو ګوري .که ددښمنانو دغه رواني اومسلطي دسيسي اوتوطيي په متحدانه اوله يوه واحد مبارزوي اوجهادي مستحکم سنګرڅخه شنډي اوخنثي نشي نوخداي (ج) مه کړه چي هيوادوال به دېوه بل خطرناك اوتباه کوونکي حالت سره لاس اوګريوان وي. داځل به حالت ځکه خطرناك وي چي دښمن زموږيه ملك کي کورپه کور ،کلي په کلي ، ولسوالي په ولسوالي اوبالاخره ولايت په ولايت دومره زيات دبي اتفاقي ،بي باوري ، بي اعتمادي ، بي عهدي اوبي مسؤليتي تباه کوونکي تخم شندلي چي دپاکولو اوله منځه وړلو لپاره يي همدا شاني دمومنو، مبارزو ،متعهدو ، باصبرو اودخداي (ج) په لارکي هرډول قربانيو ته تياروعلمبردارانو راټوليدل اودواقعي او له اخلاصه ډك تعهد ورکولومؤثري اوبريالي وسيلي ته ضرورت دي چي وکولاي شي په ناکراره هيواد کي واقعي سوله اوامن راولي ددغه درانه اوسنګين بارد پورته کولو لپاره په عملي ډګرکي دحزب اسلامي مجاهداومبارزتنظيم اوړه ورکړي ده نوددغه مخلص ،متعهداوقوي تنظيم دروازي دټولو مومنو، متعهدو،باصبرو او واقعي مسلمانانو پرمخ خلاصي دي.

دقاضي صاحب له حزب اسلامي سره دپيوستون اعلان دټولو هغو مشکوکواوځان طلبه خلکو لپاره دعبرت درس ګڼل کيږي ،دغه دوستان دي پدي پوره باور ولري چي الحمدالله حزب اسلامي دهري ورځي په تيريدلو سره دمومنو اومجاهدو اشخاصو په پيوستون سرهدخپل ژوندانه دامید اوفتحي وروستي سنګر جوړيږي ، حقانيت – اوصوليت نظم اومتعهديت يي ديرښه برملاکيږي په مبارزوي اوجهادي دريځ يي خلك اوس اوس له بل هروخت نه زيات قانع او باوري کيږي که څه هم دافغانستان په مبارزوي اوجهادي تاريخ کي حزب اسلامي دلوړاوعالي مقام خاونددي ،هيڅ باسنجشه اومدبراشخاص به له دغه ځلانده تاريخ څخه سترګي پټي نکړي ولي داسي ښکاري چي زموږ په کړيدلي اوځوريدلي هيواد باندي داوسني مسلط تراژيدي اوبدبخته حالت ختميدو ته پواځي دحزب اسلامي مجاهد تنظيم ملاتړلي ده،خپل جهادي سنګرونه يي ددښمن دنابودي لپاره ټينګ ساتلي ،سازشونواوتهديدونو يي دريځ وريدل نشواي کړاي، په تعهدونوباندي وفادارياته شوي اوبالاخره په خپل هيوادکي دسوچه منتخب اسلامي حکومت غوښتونکي دي اوداافغان مجاهدولس وروستي فيصله هم همداده چي غير له اسلامي حکومت اوصالح قيادت پرته به په بل هيڅ شي راضي نه شي او دولس دغوښتونکوغوښتنو ته پواځي دحزب اسلامي مجاهد تنظيم لبيك ويلي چي څرګندي اوبارزي نموني يي دملحد نجيب دواکمني دختميدو له وخته نيولي ترنن پوري دپخوانيوکمونستو جنرالانو اودجنايتکاره ګلم جم مليشو دوحشت اوظلم دپاي ته رسيدو په مقابل کي د جهادي سنګرونو په ګرم ساتلو کي له وړايه ښکاري .نو ددغسي يوه تنظيم چي د مظلومو هيوادوالو په غوښتنو يي صادقانه اواخلاصمندانه ګامونه اوچت کړي وي ، حتمي ده چي دمومنو هيوادوالو دملاتړاوحمايي څخه به برخورداره کيږي.

دقاضي صاحب پيوستون نه پواځي داچي دمخلصو اومومنوهيوادوالو دحزب اسلامي سره ديوځاي کيدو لاره پرانستله اودحزب اسلامي دتنظيم په حقانيت يي دتصديق قوي مهر ولګاوه بلکه ديراهميت اودرونډوالي يي پدي کي دي چي قاضي صاحب بيرته هغه کورته ورننوت چي له پيله يي دځان لپاره ټاکلي و. اودخپل کور هغه خاليګا ، يي بيرته ورډکه کړه چي څه موده ده دجدايي په صورت کي جوړه شوي وه .

قاضي صاحب که څه هم له خپله کوره څه موده جسماً ليري شپي ورځي تيري کړي خوواقعيت دادي چي روحاً يي ځان جلا ندي بللي ،ټول کره وړه يي دحزب له مرام اودريځ سره ورته سرته رسول . دخپلي جدايي په موده کي دهيڅ ماهر ښکاري . ښکار ونه ګرځيد ، خپل ځان – وقار–عزت او ورونه يي دپيسو اوچوکي په مقابل کي خرڅ نکړل،خپل جهادي وزن اومبارزوي رسالت يي داغمن نکړ اولکه څنګه چي يي ځان دداعيه اتحاد اسلامي مشر ګاڼه همغسي ترآخره پوري په همدغه نامه سره پاته شو. داخبره هم دپادوني وړده چي حزب اسلامي دقاضي صاحب جدايي غته خاليګاه حس کوله ،ددي خاليګاه په جوړيدو راضي نه ؤ بلکه دبدن ديوي مهمي اوفعالي عضوي دماتيدو حيثيت يي ورته درلود ، حتمي ده چي په بدن کي کومه عضوه نقصاني شي نودهغه اړوند کاروالوکي به سستي هم راځي ،خوالحمدالله ډيرد خوشحالي ځاي دي چي دحزب اسلامي مات وزرپياکوشير ومونډ اودحزب اسلامي بدن سالمتياپيداکړه ان شاءالله لدي وروسته به دحزب اسلامي دجهادي دريځ اوموقف ګرنديتوب يو په خوځنده شي ترڅوزرترزره زموږيه هيوادکي مسلط تباه کوونکي وضع خاتمه ومومي اوسوکالي منځ ته راشي.

چشم ديدها وحقايق

آب شدن ۸ کيلوګوشت درمدت دوماه

